# کک او زرینه

Ketabton.com

عبدالغفور لیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پیلیزه

د هېلمند( ۱) پر غاړه ناست یم ، سیند بهیږي
د بابا له لوړو غرونو را خوځیږي
غاړې غاړې د هامون تر اېلبندونو
په څپو وایي کیسې د تاریخونو
څه رازونه د طبیعت له کتابونو
یه هېلمنده! یه څپانده مسته سینده!
تا نه اورم ، غلي غلي راته ښایې
زما دتللیو زمانو ورک پرتمونه
ستا بهیر کې راروان په غورځنګونو
ستا څپو کې ، د نیکونو حسرتونه
یه هېلمنده ! یه سرکشه مسته سینده !
لا به څومره ازمویې ته ارادې مو
ستا په څېر زموږ پراخه حوصلې دي
چې مو څومره ډوبوې لا نه ډوبیږو
چې مو څومره کړوې هومره پخیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په ځېر مو غورځنگونه مست څپانده
ستا پرخندېو مو جنډې دي لا رپانده
مورې هماغه يو، چې وو او لا به پايو
تا به ښنو، لا به مستيږو تا به ستايو
زه دې اورم، چې څپو کې را ته وايې
حماسې زما د نيکونو، د ساکانو ( ۲)
زه دې وينم چې لا مست يې هم څپانده
خاطرو کې د پېړيو ځې بهانده
درته غوږ يم راته وايه راته وايه !
د نيکونو پرتمونه راته ښايه، راته ښايه !

## لومړی سرود

د هېلمند د څپو خوږ ورم لگيږي
د گز ځنې له اوبو سره نځيږي
لوی زرنگ (۳) د پسرلي د کور مېلمه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه سپينې بتې کښ سره تاوېږي
سرکال ډېرې اوبه راغلې په هېلمند کې
د بابا پر څوکو ډېرې واورې شوي
د سيند غاړې ته د شنو باغونو منځ کې
د سپرو سپاهيانو ډله راروانه
د اسونو تر شا دوړې پورته کيږي
سپاره راغلل د هېلمند سلام يې وکړ
د سيند غاړه کې خواره وراه راتاو شول
د تاهيس ماساد (۴) مزدک ته لږ ورڅېرمه
هغه ځای چې د سيندونو اروا گرځي
هر سهار، چې په کې لامبي هاپي (۵) ښکلې
د اسمان زر فروهرې (٦) په کې ستايي
د ساکي ټبر د سوبو عظمتونه.
د سپاهيانو مشرغږ وکړ سپروته
له مزدکه گرد راتاو شئ، نيزه والو
خادمان دې د سيند غاړه کړي گلپوښه
د هوما(۷) څلويښت خُمونه دلته راوړئ
سبا ورځ سپېڅلې ورځ د دغه کال ده
گيېځ وخته چې لا لمر نه وي ختلی
چې لا بتې د سيند غاړه کې تاوېږي
د ساکانو د دربار سپاهيان به راشي
لمرخاته به د دعا رسم پرځای شي
د ساکانو ملکه، هغه اغلې
چې لښکر يې د اويا زره سپرو دی
هغه پېغله چې لمسۍ د تايمرېس (۸) ده
زموږ ستره ملکه ښکلې زرينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمرخاته به د دعا رسم پرځای کړي
د سپېڅلي هېلمند څو پستې څپې به
د هغې د قدمونو درشل ښکل کړي
سبا لویه ورځ ده، ټول زرنگ په تمه
د هېلمند برکتونه دې مدام وي
د زرینې ملکې د تاج ځلا ته
د لمر، ستوریو او سپوږمۍ دې پرې سلام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم سرود

د سهار د وروستي ستوري ځلا درومي
سباوون پر اسمان سپینه کرښه کاږي
ستر هېلمند د زمانې په څېر روان دی
چېرته غلی، چېرته مست او خروشان دی
لوی مزدک ته د تاهیس ماساد ورځېرمه
ډېر وګړي راټول شوي دي دعا ته
څه سپین ږیري، څه مېرمنې، څه ځوانان دي
درباریان کتار کتار ولاړ پر لاره
په پیره ولاړ سپاهیان دي نیزه واله
د ساکي ټبر مشران بر سر ولاړ دي
څوک راغلي د پامیر له سردرو دي
څه د سترې باکتریا (۹) له زاړه ښاره
څه مشران له هیندوکڅه (۱۰) را اوښتي
له باګرام ، ناګرویهار (۱۱) اوکابورا (۱۲) نه
د سیند غاړه نن سهار داسې رنګینه
لکه ګډ شي سبزه زار له لاله زاره
ټول په تمه دي د ځوانې ټولواکمنې
هغه ښکلې، د ساکي ټبر ملکه
د زرینې د کوکب اواز شو پورته
لوی ډولونه په غربا شول چېرې لرې
تورومونو غاړې واېستې هوا ته
د چنچنیو سېل شو پورته له باغونو
سپینې بتې د سیند غاړې ته شوې غلې
د اسونو شیشنهار شو په میدان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوربتان جوړه راتاو شول په اسمان کې
روان تخت دی پر اوږو د غلامانو
لس کنیزې ورپسې دي سینګار کړې
سل ساتونکي سپین اسونه ترې چاپېره
راروان د هېلمند غاړې ته کوکب دی
د روان تخت پر سر ناسته ملکه ده
شنه بخمل باندې د تخت داسې ښکارېږي
لکه سپینه سپوږمۍ هسکه پر شنه څوکه
زرین تاج یې جوغه دار پر سر ولاړ دی
هسکه غاړه یې د سپینې قو تمثال دی
درباریان لاس پر نامه ورته ولاړ دي
د زرینې تخت روان په دبدبه دی
نیزه وال سپاهیان ولاړ دي لکه پڼې
لښکر ټول ورته ولاړ په تلوسه دی
لا لمر څرک نه دی وهلی، خو رڼا ده
غلی شور د هېرمند خوږ په غوږ لګیږي
د مرغیو شورماشور راځی له ونو
د سهار وږمه پسته پسته چلیږي
ترومونو غاړې هسکې کړې نوا ته
د ډولونو غربهار اورېدل کیږي
ملکه له تخته کوزه په غرور شوه
د سیند غاړې ته یې واخیستل ګامونه
د سهار پستو وږمو یې جامې ښکل کړې
زرین تاج لاندې یې زلفې په نڅا شوې
تورې سترګې یې څپو سره په جنګ وې
د سیند غاړې ته ورکوزه شوه اوبو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو پستو څپو یې پښې ښکل کړې
د هېلمند اوبه یې لاس کې کړې راپورته
بیا یې وشیندلې خوا ته د باغونو
د خوږې هوا ژوره ساه یې کش کړه
ملکې کړې سترګې پټې ، مخ اسمان ته
د سرو شونډو په مکیز یې کوم څه وویل
د خپل تخت خوا ته ستنه په ناز ادا شوه
د مزدک د دروازې د دالان مخ ته
د هوما ځلوېښت خُمونه کتار ایښې
هر یو خُم سره یوه ساقي ولاړه
سور دسمال د ملکې لاس کې ښکاره شو
او ځلویښت جامونه ډک شول له خُمونو
تورومونو کړې غړانګې په هوا کې
د ډولونو غربهار ورسره مل شو
ملکې یوه د سر کوپړۍ (۱۳) کړه پورته
د پارتیانو د پاچا د سر کوپړۍ وه
شوې روانې جام په لاس ښکلې ساقیانې
په خرام خرام نږدې شوې ملکې ته
هر یوې خپل جام خالي کړ په کوپړۍ کې
ملکې په دواړو لاسو وه نیولې
کوپړۍ ډکه له ځلوېښت جامه هوما شوه
ملکه شوه بیا روانه د سیند خواته
په اوبو کې کوزېدله کوزېدله
سپین کمیس یې د سپین ګل په څېر چترۍ شو
په اوبو کې ملکه داسې ښکاره شوه
لکه سپینه قو چې ګډه په اوبو شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه سپین سوسن چې وناځي ځپو کې
لکه سپینه سپوږمۍ ځل وکړي اسمان کې
په اوبو کې یې تصویر کړی کړی شو
د هېلمند غېږ کې هوسا روح د شهۍ شو
چې اوبه یې زنګنو نه شوې ورپورته
د کوپړۍ شراب یې توېې کړل په سیند کې
مخ اسمان ته په لوړ غږ یې دعا پیل کړه :
د تاهیس ماساد په روح یې کړه قبوله
ستر هېلمنده ! د ساکانو دا دعا ده
ستا ځپې دې تر ابده وي روانې
ستا له شوره مو دې ژوند اخلي خوندونه
د بابا څوکې له واورو تشې مه شه
ستا ناوونه په مستۍ تل بهاند اوسه
د ساکانو د ټبر سپېڅلیه سینده
زموږ د تندې د خړوب اسماني جامه
پرتا ویاړو ، کروندو ته اوبه راکړه
کب نیونکیو ته پریمانه کبان راوړه
زر مینځونکیو ته د زرو ذرې ورکړه
د باغونو د بدن د ژوند چینه شه
په ویالو کې ور بهیږه تر هرکلي
او د ژرندو پر مېچنو ورشېوه سه
فروهرې د اسمان په تاکې لامبې
وچو دښتو ته د ژوند روح روان شه
دا شراب ! دغه هوما ! زموږه نذر
ستا رګونو کې زموږ د دعا نښه
د ساکانو اووه ټبره راټول شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

که (تیشخولي) (۱۴) که (کښوال)(۱۵) که (هومايي)(۱٦) دي
( ماساګيت)(۱۷) هم (اسپه يان)(۱۸) هم (دهاوي)(۱۹) دي
ورسره دي د ( کاسيانو )(۲۰) لوی مشران هم .
دلته ټول نن راټول شوي او تا ستايي
اوو ټبرو نه ښلوېښت مشران راغلي
ستر هېلمنده! ستا تر څنګه راټول شوي
د هر مشر په نامه مو يو خُم ايښی
له هرخُم نه مو سپېڅلې هوما راوړه
چې يې نذر کړو دا ستا بهاندې غبږ ته
د ساکانو د ها ستر دوښمن کوپړۍ کې
چې پر موږ يې ستا اوبه هم پېرزو نه وې .
د پارتيانو د پاچا د سرکوپړۍ مو
د هوما له ښلوېښت جامه کړه راډکه
ستا اوبو ته مو ښښلي مست هوما دي
چې تا مست کړي، په ځپو شې، په غورځنګ شې
د پارتيانو د پاچا کوپړۍ ده نښه
چې موږ ټول سره يو لاس يو او يو زړه يو
نن جوړيږي د ساکي ټبر ټولنه
نن مزدک ديوه نوي پيل شاهد دی
نن هېلمند د يوه لوی تړون قاصد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درېيم سرود

د مزدک تر څنګ راټول ځلوېښت مشران شول
څه مشران هم د ملکې له درباره
ملکه ده راروانه له کېږدۍ نه
واه! په نویو اسماني جامو کې راغله
د ښایست پرنیاني جامو کې راغله
د ساکي ټبر مشران کتار ولاړ دي
د ښایسته زرینې امر ته تیار دي
ملکه پر خپل دریځ ور وختله
مخامخ څه په وقار ګوري لښکر ته
د ځلوېښت مشرانو خپل ته یې خطاب دی
د ملکې د وینا یو نوی باب دی :
(( د ساکي ټبر مشرانو سترې مه شئ
خدای مو راوله د ستر هېلمند درګاه ته
لوی زړنګ مو هرکلي ته سترګې ایښي
زماني مو د جنګونو تر شا پریښي
نن راټول پر یو ټغر پر یوه غولي
د ساکي خېلخانو جوړه ده ټولنه
تر دعا وروسته مو نن سره جرګه ده
پر اوبو د ستر هېلمند مو مرکه ده
د ساکانو لوی هېواد به نن بنیاد شي
د اووه ګونو خېلخانو به پرې زړه ښاد شي
له هامونه تر کاسغر او امو روده
له باختره تر باګرام او تر کابله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر له ننه به دا ټول د ساک هېواد وي
له پاميره رانيولې تر زابله
سر له ننه زموږ وطن لوى ساکستان ( ۲۱) دى
د ارين د لوى کاله پر زړه ودان دى
د ساکي ټبر اووه لويې پښې دي
د ساکي ټولنې خويندې خېلخانې دي
که زرنګ دى او که بُست ( ۲۲) زموږ دوه سترګې
زموږ له سوبو په پارتيانو زلزلې دي
تاسو ټول څلوېښت مشران زموږ ښاغلي
د ساکانو د ټبر د سر وګړي
په دربار کې زما درې ورځې مېلمه ياست
سره وترئ د کلک پيوستون پړي .
ساکستان دې وي سر لوړى تر ابده!
په هېلمندخړوب او مست دې په هوما وي
له هرنن نه مو د ې ښه هره سبا وي ! ))
لښکر چيغې کړې ، مشرانو غږ کړ پورته :
تخت و بخت دې برقرار اوسه اغلې
زموږ سترې ملکې، زرينې ښکلې !
موږ راټول ستا په درشل، ستا په بورجل يو
ساتندوى د ساکستان په ګډ مورچل يو
ساکستان زموږ هېواد دى موږ پرې وياړو
د هېلمند د هر يو څاڅکي حساب غواړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم سرود

د زرنگ د پاچاهي ارگ په ماڼۍ کې
د هوما جامونه گرځي مجلس جوړ دی
زرینه ملکه بر سر پر تخت ناسته
خادمان او کنیزانې ترې تاویږي
د ساکي مشرانو مخ ته پیالې ایښې
د هر یو ترڅنگ کوپړۍ دي د سرونو
څه په زرو دي پوښلې څه په سپینو
په دربار کې ده رڼا د قندیلونو
هر قندیل کې سل خوشبویه ډیوې بلې
د جامونو له کړنگا سره یو ځای شو
شرنگهار د پایزېبونو د ساقیانو
یا خندا ده یا خبرې د مشرانو
چېرته لرې د رباب و چنگ نغمه ده
یو ناڅاپه ملکه شوه را ولاړه
شور و زوږ چوپ شو یو دم په ټول دربار کې
ملکې په ډېر غرور، په هسکه غاړه
د ساکانو پر مشرانو ناره وکړه :
یه زما د لوی ټبر سترو مشرانو !
یه په توره او په پوهه کې ښاغلیو !
پیوستون دې زموږ ټولو مبارک وي
خو نن غواړم ، چې یو راز درته ښکاره کړم
په گاونډ کې د پارتیانو( ۲۳ ) د نیتونو
اردوان چې د پارتیانو اوس پاچا دی
لوی لښکر د پارس را ایستی زموږ جنگ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

پينځه واري شل شل زره يې سرتيري
ورسره دي ډېر اسونه او اس ګاډي
په زنځير تړلي سل وحشي پيلان هم
زموږ ځارګرو يې شمارلي دي پوځونه
اردوان دی راروان د زرنګ بند ته
چې د پيل په زور يې وران کړي يو ناځاپه
زموږ ښار په لوی سيلاو باندې لاهو کړي
او بيا واړوي هېلمند و خپل وطن ته
زه زرينه ، چې لمسۍ د ( تايمرېس ) يم
چې لومړۍ ستره واکمنه زرينه وه
د کوروش د جنګ سوبمنه، ها وياړلې
چې لښکر يې د پارسيانو تار په تار کړ
د خپل زوی کسات يې واخيست له کوروشه
چې د شاه پرې کړی سر يې ورنه راوړ
او په وينو د پارسيانو يې خړوب کړ
زما بدن کې هم تاوېږي او چليږي
د هغې انا د وينو غورځنګونه
د لومړۍ زرينې بله لور زرينه
نن ولاړه د هېلمند په ننګ و نام ده
هېلمند زوی د ساکستان زموږه ورور دی
هر يو ځاځکی د اوبو يې پر موږ پور دی
زموږ د مخ اب و ابرو همدغه سيند دی
زموږ پټي زموږ باغونه پرې خړوب دي
دا اوبه د ساکستان د وجود وينه
همدا سيند زموږ ډوډۍ زموږ خواړه دي
ټول ساکان د دغه ورور په وجود پايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه سیند زموږ قدرت او سلطنت دی
زه لمسی د تایمریس بیا یم ولاړه
نن په ننګ د ستر هېلمند چې زما ورور دی
بل کوروش دی راروان بل یې لښکر دی
د لومړۍ زرینې روح موږ ته په تمه
هغه تېر تاریخ به بیا نن تکرارېږي
ما چې تاسو را بللي یاست له لرې
د یو نو ي جنګ پیغام درته لرمه
پر وطن د ننګ پیغام درته لرمه .
د ملکې په خبرو کې څه شور و
درباریان ټول په غورځنګ او شور ماشور شول
تر څنګونو شرنګاشرنګ د پلنو تورو
د جامونو شرنګاشرنګ له ټولو هېر کړ
اوګزریاخ (۲۴) ، چې د تیشخولو لوی سردار دی
په ادب شو راولاړ تعظیم یې وکړ
ملکې ورته په لاس اجازه ورکړه
اوګزریاخ ، هغه سردار د سردارانو،
وویل : تخت دې برقرار وي د زرینې
اردوان لا له پخوا نه زړګی ډک و
د خپل پلار پاچا فرهاد کسات یې غوښته
هغه کال ( ۲۵) ، چې اشکانیان بابل ته ولاړل
انتیوخوس . پاچا د روم . راغی جګړې ته
او فرهاد چې د رومیانو د جنګ نه و
له ساکي کڅوالو خواست د مرستې وکړ
د کڅوالو یو لښکر جنګ ته روان شو
په دې منځ کې د یونان لښکر رابېل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتيوخوس يې په ميدان يوازې پرېښود
فرهاد دم غنيمت وشمېره، سوبمن شو
انتيوخوس يې کړ تالا ترغې په جنگ کې
جنگ وروستی و، چې ساکان ډگر ته راغلل
خو مغرور فرهاد پر دوی نظر ونه کړ
د ساکانو مشر ورغی پاچا ته
چې موږ ژمنه کړه پوره، مرستې ته راغلو
زموږ برخه د جگړې راکړه واکمنه !
خو فرهاد چې مست د سوبې په ساغر و
د ساکانو لښکر سپک کړ په دربار کې
د ساکي کڅوالو ستر سالار څروان و
يوناني لښکر يې وغوښت خپلې خوا ته
يونانيان چې شول ملگري د ساکانو
د بل جنگ توپان يې پورته کړ اسمان ته
له سوبمن فرهاد يې لاره- گودر ورک کړل
د روميانو په دعا يې اشکانيان کړل
فرهاد ومړ، د ساکانو په جگړه کې
ډېرې زمکې يې کړې خپلې، زموږ ساکانو
له بابل څخه پارتيا ن بېرته په شا شول
اردوان چې اوس ځايناستی د فرهاد دی
قسم کړی، چې کسات به د پلار اخلي.
ملکه، د اوگزرياخ خبرې اورې
او نظر يې چېرته لرې دی ځيرلی
يو ناڅاپه يې سردار ته مخ راواړاو
د پارتيا نو ډېره زمکه وچه شوې
لکه وچه بيديا تندې ده اخيستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ويالو کې يې اوبه اوس نه بهيږي
د فرهاد تر وينو دوی ته اوبه گرانې
اوسنۍ جگړه را پېښه پر اوبو ده
د فرهاد کسات به وي او يا به نه وي
د پارتيانو په هېلمند پسې لښکر دی
د زرنگ او بُست تر منځ د اوبو بند دی
په دې بند يې د پيلانو لاس ور بر دی
له هامونه خپلو کليو ته جر باسي
ځو ويالې به د هېلمند له بستر باسي.
ازرشيد، چې د کڅوالو لوی سردار و
په ملا ټيټ شو د ساکې زرينې مخ ته
په ادب يې پر ټټر کېښول لاسونه :
زه يم زوی د ستر څروان ، چې لوی سوبمن و
زما پلار مغرور فرهاد سره په جنگ شو
پېژانده يې د پارتيانو لښکر داسې
لکه پېژني چې خلک د لاس رغوی
زما پلار د هغه جنگ کيسه کړه داسې
چې لښکر کې د فرهاد يو لوی سالار و
د ساکانو لوی اتل ستر پهلوان و
نوم يې کک ، و د هوما له ستر ټبره
په هر مټ کې يې د څو پيلانو زور و
کک د غره په څېر ولاړ او د غره زوی و
دی بللو (کک کهزاد ) د پارس لښکرو
د فرهاد پاچا ملگری او همدم و
د فرهاد او د څروان سالار جگړه کې
د ساکانو مخ ته رانه غی ښاغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل : د خپلو عزیزانو جنگ ته نه ځم
خو فرهاد، چې د ساکانو تورو وخوړ
کک د خپل ملګري مرګ کړ ډېر خواشینی
زما پلار سالار ځروان داسې کیسه کړه
اردوان، چې د فرهاد پرځای پاچا شو
نو له کک سره یې کرکه و دوښمني شوه
کک راووت د پارتیانو له درباره
چېرته لرې کومې د ښتې ته روان شو.
په دې وخت کې، د هوما د ټبر مشر
ځوان هومان شو راولاړ ، چې څه ووایي
ملکې په اشاره اجازه ورکړه
هومان وویل : ملکه دې وي خوشاله
د ساکانو لوی هېواد دې تل ودان وي
تر هغو چې لمر راخیژي او سپوږمۍ شته
تر هغو دې تل ځواکمن ستر ساکستان وي
د ساکانو ټول اویا زره لښکر دی
خو ځوانان د هر ټبر تر دې لا زیات دي
ټول په ننګه د زرینې او هېواد یو
موږه ټول ستا پاچاهي باندې اباد یو
د ساکانو ټول اووه واړه ټبره
د هېلمند اوبو په ننګه ټول ولاړ یو
خو د سلو زنځیري پیلانو جنګ ته
څه چاره تر دې لښکر پورته په کار ده
د اسونو او پیلانو سره نه شي
د پیلانو مرګ د کک د ګورز ګوزار ده
بې له ککه دا جګړه ګټلی نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هېلمند پر اوبو بند ژغورلی نه شو
سل پيلان دي راروان چې بند ويجاړ کړي
زموږ لښکر تر پښو لاندې رالتاړ کړي
د پيلانو جنګ ته کک پهلوان بويه
چې هر ګورز يې زنځيري پيل راګوزار کړي

لوی لښکر د اشکانيانو تار په تار کړي
زموږ تربور ، هغه وياړلی سالار کک دی
په ځوانۍ د غره په شان مغرور او هسک دی
د هومان وينا ته ځير وه، د زرينې
په سرو شونډو څه خوږه موسکا خوره شوه
په پوښتنه يې هومان ته مخ ورواړاو
ستا تدبير، لکه باران پر تږې زمکه
ستا وينا لکه درمان د زخمي زړه ده
وايه، چېرې به پيدا ستر پهلوان کړو ؟
د هېلمند په ننګ به يې څنګه راروان کړو ؟
د پيلانو د جګړې بله لار نه شته
بې له دې چې د کک ګورز ته يې حيران کړو
يه هومانه ! د هوما د ټبر مشره
کک کهزاد، چې ستا تربور دی چېرته اوسي؟
چې جرګه ورته مشران د ساکستان کړو
چې لو ی جنګ ته يې له ځان سره روان کړو
هومان سر د درناوي په دود را کوز کړ
ويل : زموږ د ملکې عمر دې اوږد وي
د فراه له کلا لرې يو هسک غر دی
د دې غره لمن کې اوسي کک وياړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه لویه شاهانه کلا( ۲٦) یې جوړه
په کې ناست وي په غرور زموږ ښاغلی
خو کوم پټ غم یې په زړه دی لګیدلی
لکه غشی تېر و بېر ورنه وتلی
کک زخمي دی، کک غمجن دی کک ویرمن دی
غم خپګان د کک تر ټولو لوی دوښمن دی
څوک په راز د کک د زړه هېڅ خبر نه شول
شپه او ورځ ناست په دربار کې وي یوازې
د هوما ډک ډک خُمونه ورته ایښي
له ښایسته سترګو یې اوښکې وي روانې
خلک وایي: دي خبرې یې پرېشانې
بې له خپلو خادمانو او یارانو
نور یې څوک خلوت دربار ته تللی نه شي
ترې ویریږي، څوک یې حال پوښتلی نه شي.
بس یوازې په دې راز یې مور پوهیږي
مور د زوی د زړه په حال باندې خبریږي
مور یې هلته د فراه کلا( ۲۷ ) کې اوسي
کله کله کک زرین تخت ور روان کړي
خپله مور خپلې کلا ته مېلمنه کړي
په اعزاز یې خپل دربار ته ور وبولي
په خلوت کې راز و نیاز ورسره وکړي
سر د مور پر زنګون کیږدي او غم هېرکړي
زړه ارامه د واړه ماشوم په څېر کړي.
د زرینې سترګې ډکې شوې له هیلو
په کتلو کې یې ځل د رڼا وشو
د لاسونو په پړکا یې ټول ارام کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول مشران يې يو يو تېر کړل له نظره
بيا يې وګنډلې سترګې په ډيوو کې
غبږ يې پورته شو د هيلو په څپو کې :
کک به خامخا راځي دغې جګړې ته
ملا تړلى د پيلانو هنګامې ته
د سالار کک په وجود کې ساکي وينه
هم څپانده د هېلمند وياړلې مينه
کک به خامخا راځي زما باور دى
د فراه خوا ته مې حکم د سفر دى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پینځم سرود

د فراه لویه کلا، دنگ دیوالونه
یو کم سل یې دي ولاړ لوی لوی برجونه
یو کم سل برجونه ډک له سپاهیانو
د دیوال پر سر یې ځي جوړه اسونه
فراه رود نه راروان دي ډک نهرونه
شا او خوا یې واړه کلي او باغونه
شنه فراه لکه په شنه کمیس کې ناوې
له کلا نه دي راتاو ډک خندقونه
د خندق تر غاړې شنه دي د گز بوټي
په کې گرځي د هیلیو سپین خېلونه
نن فراه کې شور ماشور د خلکو ډېر دی
د سپاهیانو او عسکرو څه غو غا ده
د کلا دروازه نن په گلو پوښ ده
پر ختیځ برج لگېدلي اووه جنډې دي
د ساکانو د اووگونو ټېرونو
تورې، سرې او شنې جنډې هسکې رپیږي
دروازې نه رابهر کتار کتار دي
سپاهیان، څه یې سپاره او څه یې پلي
سینگار کړي مرییان او ښکلې مینځې
هرکلي ته راوتلي په تلوار دي
نن د ساکو ملکه، ستره زرینه
راروانه له زرنگه ده فراه ته
نن د ټول ساکستان حسن ټوله مینه
د فراه ستره کلا کې ده راټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساکان ټول دي راوتلي تماشې ته
د زرينې ملکې مخ ننداري ته
د کلا په يوه څنډه کې ودانه
له ډبرو څخه جوړه شنه ماڼۍ ده
لکه ګوته کې غمی داسې ځليږي
ګرد چاپېر يې د اوبو واړه لښتي دي
اولمن يې د ګلونو شنه ځولۍ ده
په ماڼۍ کې ده روښانه (۲۸) مېرمن ناسته
را روانه ورته ښکلې مېلمنه ده
شاه مېرمن روښانه ګوري دروازې ته
د ساکانو ملکه به کله راشي
هغه ستره زرينه، چې ژوند يې اوږد شه
ساکستان يې له وجوده نوراني دی
نن فراه کې مېلمنه ده د روښانې
بختور قدم يې زيری اسماني دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپېرم سرود

د ماڼۍ په لوی تالار کې دوه مېرمنې
سره ناستې مخامخ پر دوه څوکیو
لاس په نام ورته ولاړې کنیزانې
دوه غلامه په لاسو کې صراحیانې
د هوما جامونه ایښي ملکو ته
شاه مېرمن روښانه گوري زرینې ته
څومره ښکلې ملکه ده د ساکانو
څومره حسن خدای ورکړی دی هغې ته
د روښانې سترگې څیر دي مېلمنې ته
او زرینه د روښانې په خبره کې
نښې گوري د تېر شوي برم له ورایه
زړه کې وايي : افرین په داسې مور شه
چې د کک په خبر اتل یې دی روزلی
پهلوان کک چې لا دې نه دی لیدلی
افسانې یې د جنگونو اورېدلي
اوس د کک مېړانه گوري د مور مخ کې
ولولو پسې اخیستې زړه یې رپي
د کک مور نه یې پوښتنې زړه کې ډېرې
ډېر رازونه دي، چې دا پسې راوتې
کک اوس چېرې دی؟ په څه باندې اخته دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک وایي : چې یې ځان زنداني کړی
په کوم لرې غره کې اوسي تل یوازې
زړه یې تور دی له رزمونو او بزمونو ؟
د کک موري د ساکانو شاه مېرمنې !
یه د تېرو عظمتونو لویې نښې !
د ساکانو اووه ټبره ځي جګړې ته
دا جګړه د ستر هېلمند پر سر جګړه ده
د هېلمند اوبه زموږ د وجود وینې
له دوښمن سره د ژوند و مرګ کیسه ده
ساکستان خو په هېلمند باندې ژوندی دی
د ساکانو کروندې دي که رمې دي
که باغونه ، که ښارونه دي که کلي
که ځاه ګانې، کاریزونه، که چینې دي
که انار دي که انګور اراکوزیا کې
که غنم دي که وربشې زموږ په بُست کې
که زرنګ په اوبو موړ په رمو ځورب دی
که دا شنه فراه ښایسته ده لکه ناوې
په هري کې هم بکواه کې شنه باغونه
که هامون که یې کبان دي که هیلۍ دي
بس د ټولو ژوند ترلی په هېلمند دی
اوس پاچا د اشکانیانو راوتلی
لوی لښکر یې د پیلانو خوځولی
راروان دی چې رنګ بند د ساکستان کړی
د هېلمند بهیر په خپلې خوا ورمات کړي
د پارس تنده زموږ په وینو کړي خړوبه
د ساکانو اووه ټبره سره یو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول په ننګ د ساکستان دي درېدلي
د پارسيانو له لښکره مو ډار نه شته
خو د سلو زنځيري پيلانو غم د ی
زموږ اسونه ارابې يې د جنګ نه دي
پيل افګن بويه جګړې ته د پيلانو
پهلوان درېږي مخ ته د ديوانو
چې ترې وژغوري لوی بند د ساکستان مو
د کک ګورز بويه تندي ته د هاتيانو
زه راغلې يم، پخپله چې کک بوځم
زه زرينه، ملکه د ساکستان يم
سکه لور د تايمرېس انا له وينې
زه واکمنه پر اووه ګونو ټبرونو
سکه خور د ستر هېلمند د غورځنګونو
يم پخپله پهلوان پسې راغلې
پيل افګن د ساکستان پسې راغلې
ته چې ستره شاه مېرمن زموږ د ټبر يې
د هېلمند د غورځنګونو سکه مور يې
هېلمند ستا په شيدو موړ، په خولو مست دی
راته وايه، چې کک چېرته پناه شوی
چېرته تللی، چېرته اوسي زموږ ښاغلی؟
د روښانې سترګې ډکې شوې له اوښکو
خدايزده چېرته يې ګنډلي تورې سترګې
خدای خبر چې يې په زړه کې څه او څه دي
مور د زوی غم ته ځوريږي او ژړيږي
زرينه د شاه مېرمن سترګو ته ګوري
د هغې څېره کې لولي داستانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسانې د کک د ژوند او پټ رازونه
شاه مېرمن روښانه پاڅېده له ځایه
ورو ورو راغله او زرینې ته نږدې شوه
ویل یې: یه زما د ستر ټبر واکمنې
د ساکانو د سر تاج ښکلې زرینې
زما د زوی د غم کیسه اوږده کیسه ده
دا د مینې او جنګ لویه افسانه ده
کک اتل و، کک د جنګ لوی پهلوان و
کک په ګورز باندې وهل لوی لښکرونه
کک د ټولو اشکانیانو د زړه سر و
د فرهاد پاچا دربار کې نازولی
د حرم او د دربار محرم راز و
کک سرکش و، کک مغرور و، کک عاصي و
کک د غره په څېر سرلوړی او یاغي و
د دربار له ډېر و نجونو یې زړه وړی
ډېر زړګي یې د بریتو په کنجک بند ول
پېغلو مینه په سیالۍ د کک کوله
خو یاغي کک د سپین اس په څېر سرکشه
بې پروا و د هرچا له ناز مکیزه
یوه لور وه د فرهاد پاچا ګلبویه
چې ښکلا یې وه مشهوره په ټول پارس کې
ګلبویې په دلبرۍ کې میدان یووړ
د کک زړه همدې نجلۍ په جهان یووړ
کک مین د ګلبویې په ښایستو شو
مغرور زړه یې د دې ناز ته په ټوپو شو
هره ورځ له مازیګره تر ماښامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچا باغ کې به وشول دیدنونه
کک به کېښبود سر پر ولي د گلبویې
راز و نیاز به د جوړه سترگو اغاز شو
دا کیسه د مینې پټه پاتې نه شوه
د فرهاد پاچا غوږونو ته چا یووړه
یوه ورځ له ورځو راغی فرهاد باغ ته
کک یې وغوښته ، چې راز د مینې څه دی؟
کک په زغرده سپیناوی د مینې وکړ
گلبویه یې له پاچا نه وغوښتله
پاچا تریخ شو، خو د کک زړه یې مات نه کړ
ویل : بابل کې د رومیانو جنگ ته درومو
چې جگړې نه راستانه شو بیا به گورو
ښایي لاس د گلبویې په لاس کې درکړم
انتیوخوس د بابل زمکې دي نیولې
په دې جنگ کې مې اړتیا ده د کک گورز ته
د رومیانو جنگ ته ولاړ شه زموږ زمریه !
د گلبویې ولور سوبه د جگړې ده
کک چې مست په جام د عشق د گلبویې و
له خپل گورز سره روان د جنگ په لور شو
په خپل گورز یې په لښکر کې وکړې لارې
له رومیانو نه یې وویستې کوکارې
انتیوخوس بابل کې مات د کک په زور شو
جگړه گرمه وه چې دښته کې شوې دوړې
لکه راشي په بیدیا کې توپانونه
د ساکي کڅوالو نوی لښکر راغی
او رومیان تالا ترغې په تېښته ولاړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې د جګړې دوړې پناه شوې
خونړۍ تورې چې تيکو کې بيا پوښ شوې
چې خولې او ينې ګډې په اوبو شوې
د کښوالو لوی سالار ځروان روان شو
د فرهاد دربار و جوړ ستره کېږدۍ کې
کک دربار کې د فرهاد تر څنګ ولاړ و
چې ځروان د خپل لښکر برخه وغوښته
د بريا په ميو مست فرهاد سر تاو کړ
په ډېر کبر يې ځروان په سپکو سپک کړ
د ساکانو سپکاوي ته کک حيران شو
د ځروان شخړه فرهاد سره اوږده شوه
کک غوسه و له کېږدۍ څخه راووت
ورځې تېرې د پارتيانو په بر ي شوې
خو کښوال ساکان ستانه نه شول وطن ته
يوه ورځ يې يوناني لښکر رابېل کړ
سره يو ځای د فرهاد جګړې ته راغلل
د فرهاد کبر په سره بلا اوښتی
د ساکانو د کسات څپې وې تندې
فرهاد ناڅاپه نارې کړې چې کک څه شو؟
زما سالار ، ها پيل افګن سرتيری چېرې ؟
د وحشي کښوالو خښم پارېدلی
د کک ګورز ايله کړي ماته دا ډېره
هلئ څه شو، هلئ چېرې ، هلې وای وای
خو کک نه و ، نه يې نښه د قامت وه
نه يې سيوری سهمګين چېرې د ګورز و
څوک استازی د کک راغی و فرهاد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سالار له خپل ټبر سره جنګ نه کړي
کک د خپلو ترېورانو قتل نه کړي
کک کڅوال بولي خپل هډ او خپله وينه
خپلو وروڼو سره جنګ ليونتوب بولي
خدای دې نه کړي توره سره په خپلو وينو
يونانيان چې د ساکانو ملګرتيا کړي
نو پارسيان د دې جګړې د ټينګې نه دي
ماته ګډه په پارسيانو شوه بې ککه
د څروان چالاک سپاره په زغرده راغلل
د فرهاد له کېږدۍ ګرد چاپېر راتاو شول
مخامخ شول سرداران د دوه لښکرو
د څروان او د فرهاد د تورو شرنګ شو
له کېږدۍ نه ګرد چاپېر د جګړو شور و
د ساکانو يرغل تند لکه برېښنا و
اشکانيان وو هره خوا په ځغل په تېښته
شېبه وروسته شوې نارې، چې فرهاد ومړ
د څروان ها قهرجنې تورې وخوړ
د فرهاد پرې کړی سر پر نيزې هسک شو
د ساکانو لښکر خپل هېواد ته ستون شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم سرود

شنه ماڼۍ د شین غمي په ځېر ښایسته ده
په تالار کې د اغلیو مرکه ده
د روښانې کیسه دلته رسېدلې
د زرینې سترګې ځیر هغې ته ګوري
شین توتي په یو زرین قفس کې زانګي
د ساقیانو لاس کې دوه ښکلي جامونه
د زرینې زړه لا ډک دی له پوښتنو
تر جګړې وروسته کک څه شو؟ چېرته ولاړه ؟
ګلبویه څه شوه ؟ د کک مینه شوه څنګه ؟
شاه مېرمن روښانه بېرته راستنه شوه
ښه وروړاندې شوه ملکې زرینې ته
مخامخ یې سترګې ونښتې هغې ته
د زرینې پېغلتوب ته په کتو شوه
د هغې ښکلا یې ټوله کړه تر سترګو
لږ شوه موسکه ، مورنۍ خندا یې وکړه
ویل: کک را نه غی تر پایه معرکې ته
خدای خبر چې کک په کوم غره کې پناه شو
له پارتیانو او کڅوالو چېرته لرې
په کوم ځای کې یې و خپل خلوت جوړ کړی
هلته لرې په ( تېسپون ) ( ۲۹) کې جوړ ماتم و
هغه ښار چې و پلازمېنه د پارتیانو
د فرهاد بې سره تن یې ښار ته راوړ
په (تېسپون ) کې واویلا شوه د پارتیانو
لوی دربار کې د فرهاد غوغا شوه جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اردوان، چې مشر زوی د مړ پاچا و
درباریانو پر تخت کېناوه پاچا شو
اردوان کک ته غوسه لکه ښامار و
د ساکانو د کسات لوړه یې وکړه
گلبویې و د غم تورکمیس اغوستی
خو کک نه و، نه یې نوم و نه یې نښه
یوه ورځ چې گلبویه وه د پلار بڼ کې
د ماښام تیاره ورو ورو راخورېدله
یو ناڅاپه له دیواله دروند غږ راغی
درب شو لوړ قامت ښکاره لکه د دیو شو
گلبویې د کک قامت تیاره کې ولید
کک له گورز سره راغلی و په پټه
ورو ورو راغی محبوبې ته ورنږدې شو
گلبویه په ډېره کرکه شوه ترې لرې
په څېره کې یې د مینې نښه نه وه
کک حیران و ، چې په مینه یې څه شوي ؟
داسې ولې نابلده ورته گوري ؟
کک ورو ورو د گلبویې خواته نږدې شو
گلبویه ورنه په کرکه شاته ولاړه
کک ویل : یه زما د ژوند د مقصد لارې
ستا د مینې زور یم دلته راوستلی
څه دي داسې چې په کرکه راته گورې ؟
ستا په سترگو کې هغه مینه اوس نه شته
زما سمند د دې دیوال شا ته ولاړ دی
یم راغلی چې تا بوځم ساکستان ته
اردوان سره زما گوزاره نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه دواړه د فراه په لوري ولاړ شو
هلته لرې د ساکانو په هېواد کې
د یو نوي ژوند ډیوه کړو دواړه بله
گلبوېې ناڅاپه چیغه کړه: چې ورک شه !
ته زما د پلار قاتل یې دروغجنه
ته وحشي ، قوم دې وحشي، وطن دې شاړ دی
زه له تا نه تر اسمانه لرم کرکه
زه د پارس د هېواد ښکلې شهزادگۍ یم
ستا په شان مې مرییان گرځي زرگونه
ته گوروان ، د خیرن قوم یو ځناور یې
زه د پارس د تمدن د پرتم ښښه
ته د گرځنده غوابه وو پادوان یې
زه او ته ؟ د خدای لپاره دا څه وایې ؟
ته زما د غلامۍ هم لا وړ نه یې
ته لا څوک یې چې زما د ژوند خاوند شې ؟
تا پاچا له خپل وحشي قومه قربان کړ
د جگړې میدان دې پرېښوده په تېښته
ته دې ورک شې ، قوم دې ورک وطن دې ورک شه !
هغه ورځې مې چې تا سره یو ځای وې
ما خوندونه اخیستل ستا له وجوده
مانا دا نه ده، چې تا سره به پایم
شاهزادگان د روم او مصر راپسې دي
ملکه به د بابل یا هندوستان شم
د گلبوېې په خبرو کک حیران شو
تر پښو لاندې یې زمکه شوه روانه
هسک اسمان یې پر سر تاو شو او راتاو شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وجود کې یې د اور بټۍ شوه بله
رانږدې شو، گلبویه یې ونیوله
زه په تا باندې مین یم، ته زما یې
ستا له خولې نه دا خبرې د بل چا دي
یا خو بله یې زما گلبویه نه یې؟
گلبویې له ملا خنجر غلی را ویوست
ځان یې خلاص کړ په ډېر زور د کک له منګو
یو ناڅاپه یې خنجر پر زړه ورخښ کړ
کک ټپي شو، خو په زخم خبر نه و
ته وا جوړ د کک ټټر و له پولادو
د خنجر له ټپه راغلې نرۍ وینې
خو کک پټ زړه کې زخمي و له جفا نه
د گلبویې له خبرو زر خنجره
د زلمي کک پر زړگي وو ځرخېدلي
داسې زخم یې پټ روح کې و جوړ شوی
چې خبر هېڅ د ټټر په زخم نه شو
د کک زړه داسې مات شوی نن ماښام و
چې د ژوند پیټی پرې بار لکه ناکام و
کک کهزاد لکه هسک غر رانړېدلی
په گونډو و راپریوتی په ژړا و
چې ناڅاپه شورماشور شو د ساتونکیو
د گلبویې د پلار ځو سرتیري راغلل
وتې تورې یې له تېکو تاوولې
پر کک یو ناڅاپه راغلل گوزارونه
خو غوسې د کک وجود کړ لکه تیږه
یو ناڅاپه هسک راپاڅېده، ولاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرځې سترګې یې د وینو ډنډ کاسې شوې
خپل لوی ګورز یې په خپل موټې کې بیا ټینګ کړ
څو ګوزاره یې د ګورز وربانديې وکړل
د ساتونکیو مړي ټول سره انبار شول
زخمي کک لکه چالاکه شاهین والوت
پر دیوال له باغه واوښت او پناه شو
ګلبوېې لا بله چیغه کړې نه وه
چې سمند باندې له سترګو الونیا شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم سرود

د روښانې سترګې ډکې شوې له اوښکو
خو په سترګو د زرينې کې پټ شور و
شين توتي زرين قفس کې کريغه وکړه
د زرينې خيالات يې پريشان کړل
لکه څوک ناڅاپه پاڅيږي له خوبه
په شېبه کې يې دنيا ته پام وړواوړي
زرينه بېرته د کک دنيا ته ولاړه
د هغه د برخليک تصوير ته ځير شوه
بيا يې مخ واړاو روښانې شاه مېرمن ته
چې د کک له برخليکه ځان خبر کړي
تر هغې پېښې راوروسته کهزاد څه شو؟
چېرې ولاړه د ساکانو پهلوان کک؟
چېرې اوسي، څنګه پايي، اوس څه وايي؟
په هېلمند باندې جګړې څخه خبر دی؟
د ساکانو د يووالي په راز پوه دی؟
د اووه ګونو خېلخانو په هوډ پوهيږي؟
د روښانې په څېره کې د غم نښې
لکه نښې د ماښام راشي شفق کې
څه يې ووېل، رپېدلو شونډو لاندې
يو ځل بيا نږدې شوه خپلې مېلمنې ته
په ډېر درد يې د کک ژوند داسې بيان کړ:
له دې ځايه درې څلور کروهه لرې
د يو غره لمن کې جوړه يې کلا ده
کک يوازې د کلا ماڼۍ کې اوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو ملګري يې ساتونکي د کلا دي
وفاداره غلامان يې خدمتګار دي
کک کلا کې ځان پخپله بندي کړی
له بزمونو او رزمونو توبه ګار دی
اوږده ږيره، اوږدې څنې ، څېره ډوبه
کله ځان ته غشي جوړ، کله ليندۍ کړي
کله وباسي له وسپنې نه توره
د جنګي ګورزونو شوق ورسره ډېر دی
جوړوي درنې درنې تورې او زغرې
له هوما ډک ډک خُمونه ورته ايښي
ډک خُمونه تشوي خو زړه يې ډک دی
له غمونو، له ګرومونو او له کرکو
ګلبوېې لکه لړم پر زړه چيچلی
هره ښځه ورته شنه لړمه ښکاري
له کلا نه يې شړلي ټولې مينځې
ټولې ښځې جفاکارې ورته ښکاري
هوسبازې ، خطاکارې ورته ښکاري
نه څوک ګوري، نه څه اوري، نه څه وايي
بس يو ځلې مياشت کې ما غواړي کلا ته
سر زما پر زنګون کيږدي ښه وژاړي
وايي مورې ! زړه مې مات دی، روح مې ژاړي
له دنيا او انسانانو مې زړه تور دی
د دنيا له خوبرويانو مې زړه تور دی
هره ښځه راته توره بلا ښکاري
مورې ! ما ته تياره ټوله دنيا ښکاري
مورې ! يو ستا پر زنګون باندې ارام يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا زنگون راته بالښت د جنت ایسي
ته هم ښځه يې، خو تا نه خپه نه يم
ته انسانه نه يې ، ته زما پرېښته يې
زما زړه خو انسانانو ځورولی
ما قسم کړی، چې څو پورې ژوندی یم
بې له تا به د هېڅ ښځې نوم وانه خلم
د هېڅ ښځې مخ به نه گورم په سترگو
که خطا کې کومه ښځه یا کنیزه
زما کلا ته رانږدې په یو منزل شي
زما ساتونکي به يې وولي په غشيو
مړ بدن به یې په اور باندې اېرې کا
مورې ته خو پرېښته يې، انسان نه يې
ته ځانگړې يې، د نورو په شان نه يې!
کک ماشوم شي، زما زنگون باندې ویده شي
زه پرې ژاړم، لیونتوب ته يې کړيږم
زما هغه پهلوان، هغه سرتېری
هغه غر غوندې پیاوړی، ها ښاغلی
لیونی دی، هره ورځ خوري د زړه وینې
د دنیا لوی لښکر مشر پهلوان ته
گوره څه کانې وروکړې د چا مینې
هی ارمان زما له سترگو ورکه زویه
لیونیه هک حیرانه ککه زویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم سرود

ملکه زرینه ناڅاپه شوه پورته
تورو سترګو کې يې هيلې په ځلا شوې
په څېره کې يې د ټينګ هوډ نښې راغلې
د نازکو شونډو رنګ يې نور هم سور شو
په روښانې کې يې وګنډلې سترګې
په هوډمن غږ يې په لوړه داسې وويل :
زه ورځمه او له کک سره غږېږم
برخليک يې په کلک هوډ وربدلومه
کک به بيا له خپل لوی ګورز سره راپاڅي
پيل افګن کک به په ننګ د هېلمند ولاړ شي
زه يې باسمه د کرکې له دنيا نه
زه يې بېرته انساني دنيا ته بيايم
تر دې وروسته پر همدغه ژمنه پايم
د روښانې په څېره کې ويره ترهه
حيرانتيا او ولولې په څپو سر دي
مېلمنې ته څه په برندو سترګو ګوري
لورې ! دا دومره اسانه کار مه بوله
کک به رحم په هيچا باندې ونه کړي
ته واکمنه د سرلوړي ساکستان يې
خو د کک په نظر ته يې يوه ښځه
که لښکرو سره مل کلا ته ورشې
په يوازې به دې ټول لښکر تالا کړي
اوس ورتلل د کک کلا ته ، مرګ غوښتل دي
د پړانګ کومي ته د لاس ننه ايستل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زمري سره په غېږه جنګېدل دي
له نهنګ سره توپان کې اوښتل دي
د اورتون په سرو لنبو کې تاوېدل دي
پر سکروټو باندې ييلې پښې تلل دي
اژدها پهلوانۍ ته رابلل دي
سر د غره له لويو تيږو جنګول دي
ليونتوب دی، لوی ګړنګ ته ور ترپل دي
کک غوسه دی ، کک له ډېره جوشه ډک دی
د زخمي افعي په څېر په ځان تاوېږي
چې د ښځو يادون وشي نو خښميږي
يو منزل به لا کلا ته نږدې نه يې
چې پر تا به د تېرو غشيو باران شي
دومره لوی خطر مې نه لوريږي ګرانې
چې پر غم دې سيه پوش ټول ساکستان شي.
خو زرينه، هغه ښکلې ژمنه پېغله
چې رګ رګ کې يې تاوېږي ساکي وينه
مساګيت د تايمرېس انا له پښته
هغه لوړه کوچانۍ په قامت دنګه
په ښايست د تاووس خور، په زړه پلنګه
هو زرينه ملکه ، چې لرې ګوري
په افق کې يې ګنډلې تورې سترګې
په لوړ غږ يې خپله ژمنه کړه ورغبرګه
که ديوان مې مخه ونيسي په غرونو
که زمري په مخه راشي ډلې ډلې
که په لاره کې دوزخ لنبې وي
که د غشيو باران اوري له اسمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خامخا د کک لیدو ته ځمه
ولولې به یې په زړه کې پاڅومه
د هېلمند په ننګ و پت یې ننګومه
هغه اور چې یوې ښځې دی بل کړی
بویه مړ د بلې ښځې په لاسو شي
ها دوزخ چې د یوې په لاس جوړ شوی
یوه بله به یې جوړ د جنت باغ کړي
هغه کرکه چې یوې ښځې کرلې
عاطفه د یوې بلې به یې توږي
زه به کک ته دا په سپینو ټکو وایم
هره ښځه لکه ستا مور پرېښته ده
له ادمه تر دې دمه دا کیسه ده
که وفا ده، که حیا، مینه، ښکلا ده
همدا ښځه د دې ټولو سرچینه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم سرود

په زرنګ کې د زرینې دربار جوړ دی
د ساکي خېلخانو ټول مشران ولاړ دي
زرینې د خپل لښکر سالاران غوښتي
اوګزریاخ وایي : لښکر جنګ ته چمتو دی
د سپرو ، پلیو ټولیو نیزه والو
د غشمنو، د تورزنو د ډال والو
پوره دولس منجنیق مو دروليي
د هېلمند پر بند مو ګرد راڅرخولي
بند ته لاري بندې کړې دي سرتېرو
د پارس خوا ته مو کوټوال دي استولي
اشکاني لښکر به واړه تار په تار کړو
خو پیلانو ته مو لا هم اندېښنه ده
کک ته پاتې مو د مرګ و ژوند کیسه ده
ملکه زرینه پاڅېده له تخته
د روښانې د لیدو کیسه یې وکړه
د کک کرکه او ګواښونه یې بیان کړل
خپله ژمنه او وعده یې هم ښکاره کړه
ویل یې زه خپله ورځمه پهلوان ته
د هېلمند په ننګه ملا د کک تړمه
اوګزریاخ ویل : د ملکې عمر اوږد شه
زموږ ټولو ژوند دې ځار شي له واکمنې
د ساکانو خېلخانې منلای نه شي
چې واکمنه دې د کک کلا ته ورشي
ستا ژوندون د ساکستان د ژوند مانا دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکر یو خوا، د لښکرو سرخېل بلخوا
د ولسونو سر ساتلی په پاچا دی
ستا ورتلل د کک کلا ته لوی خطر دی
کک سالار تر ټول لښکره زورور دی
که ساکي لښکر جگړې ته د کک ورشي
په خپل منځ کې په جگړه باندې اخته شو
لوی لښکر د اردوان به وړیا راشي
پر هېلمند باندې برلاسی به پاچا شي.
ملکې زرینې ښکلې موسکا وکړه
چېرې لرې یې گنډلې وې دوه سترگې
په مرموز انداز یې وویل اوگزریاخ ته
بې لښکره ، بې ساتونکي، بې ملگري
بس یوازې زه ورځم د کک کلا ته
د کک ضد به ماتوم په خپله ژمنه
پهلوان حیرانوم په خپله کړنه
که زه راغلمه ژوندۍ ، نو ټول به ولاړ شو
د پارسیانو د لښکرو معرکې ته
که د کک گورز مې پر سر باندې رامات شو
تاسو ولاړ شئ د هېلمند د پت جگړې ته .
چوپ ولاړ دی اوگزریاخ خپه حیرانه
د اووگونو ټبرونو ټول مشران هم
د ملکې ژمنه ډکه له خطره
خدای خبر چې ملکه به ژوندۍ راشي
ټول مشران خپلې واکمنې ته ځوریږي
ملکه ده د ساکي خېلخانو مشره
ټول په دې باندې راټول اووه ټبرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې جوړه کړه ټولنه  د ساکانو
همدې کېنول مشران پر یوه غولي
دې په خپلو کې جګړې د دوی کړې بندې
دې شعور د ساکیوالې  کړ روښانه
کوچاني ژوند نه یې  ډېر ساکان کرار کړل
ډېر ې زمکې او باغونه  یې ودان کړل
دې ښارونه د ساکانو کړل  اباده
د ملکې تایمرېس اروا شوه ښاده
زرینې د ساکستان بنسټ بنیاد کړ
له هېلمنده یې نهرونه ویالې وکړې
بُست . زرنګ یې سره وتړل په مینه
اوس چې ځي د خطر خواته  زړونه  لویږي
د ملکې عجیب هوډ ته  حیرانیږي
دغه ژمنه لیونتوب ورته  ښکاریږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوولسم سرود

مازیگر د پسرلي دی څه خاموشه
لویه دښته د فراه ده سبزه پوښه
هلته دلته کوشنۍ بوړبوکۍ تاو شي
ساراني ګلونه ونځوي ځان ته
لکه شوخه ډمه هسکه شي اسمان ته
ځای ځای غره کې ژېړ ګلونه زرغونه دي
د کک دنګه ډبرینه کلا لوړه
په برجونو یې ولاړ زلمي سپاهیان دي
د ماڼۍ په یوه لوی تالار کې ناست دی
د چنار په قامت لوړ غنمرنګ ځوان دی
تر ببرو وروځو لاندې زیړې سترګې
په سوچونو کې لاهو لکه بادبان دی
هر اندام یې لکه ډېر د یوې ونې
نرینه ښایست یې تېرله هره بریده
د هیبت او د ابهت یو ولاړ غر دی
تورو سترګو کې یې رګ د سرخۍ ښکاري
په څېره کې یې شوخ رم د هوسۍ ښکاري.
کک زلمی دی، کک دی ښکلی کک پیاوړی
څه مغروره، څه سرکشه څه ویاړلی
د خاموشۍ څېرې شاته یې رازونه
ګڼ غمونه، او د ژوند ډېر داستانونه
تورو سترګو کې یې ژوند وهي موجونه
د دربار ساقي یې شوخ یو مست زلمی دی
له پخوا نه یې ملګری د بزمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

درباریان چې ټول له کک څخه ډاریږي
د ساقي په خوله پیغام استوي کک ته
کله ټوکې ، کله کړي خوږې خبرې
په خندا راوړي هوما نه ډک جامونه
نن د کک په وړاندې بیا ساقي ولاړ دی
وایي یه ستره سالاره ، زموږ مشره
گورز دې هسک د دوښمنانو پر سر اوسه
نن مې بیا د زرنگ ښار نه هوما غوښتي
یو خُم ډک له اریایي اصلي شرابو
په قُلقُل د صراحي تر غاړې راشي
په پیاله کې د لنبې په څېر نڅیږي
د هوما له بوټي جوړ، چې له ململه
ها شراب، چې زما د کک څښتن خوښیږي
کک لږ موسک شو، د ساقي په دې خبرو
ساقي بیا د څه ویلو زړه پیدا کړ
وېل : د دوبي په تودو او لوړو شپو کې
هومایي ساکي زلمیان په غرو رغو کې
د هوما شیره له گلو څخه باسي
د ساکي زلمیو پیغلې معشوقې دي
له بامونو نه اسمان ته په سلام وي
عاشقانو ته په مینه پیغام لیږي
د سپوږمۍ د راختو شپبو ته وایي
په خوږو مهینو ژبو دا بدلې :
(( سپوږمیه کړنگ وهه راخیژه
یار مې د گلو لو کوي گوتې ریبینه )) ( ۳۰ )
د ساکانو نجونې مستې نخره بازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښایست لکه کوترې په خوی بازې ...
یو ناڅاپه کک غوسه شو او رانېغ شو
پر ساقي یې سترګې توندې کړې را برګې :
ما ته مه ستایه ښایست ښکلا د ښځو
ته پوهیږې، چې مې زړه ډک دی له کرکې
ته ساقي یې ، له هوما سره دې کار دی
ستا یې څه، چې راته ستایې پردۍ نجونې ؟
که دې بیا وه خوله لړلې په اپلتو
نو له سرو سکروټو ډکه به دې خوله کړم
د خپل مرګ تورې شپېې به درپه زړه کړم
ساقي غلی شو پر خوله یې لاس کړ پورې
کک بیا ډوب شو ، د فکرونو په څپو کې
یو سپاهي په دروازه کې راښکاره شو
په ادب او په تعظیم یې داسې وویل :
زموږ سالاره ! زما عمر دې هم ستا شي
له زرنګه یو لوی خُم دی چا راوړی
کوم غلام د یوه اوښ په شا راوړی
ساقي پاځېده، چې کار د خُم سنبال کړي
ویل : دا د ساکستان اصیل شراب دي
تر دې ښه هوما به نه وي په جهان کې
د سالار د خلوتونو غم به مات کړي
څم چې خُم تر میخانې د مانۍ یوسم
د سالار په نامه ښکلې ډالۍ یوسم
په پرتم له ځایه پورته پهلوان شو
لاس یې پورته کړ ساتونکي ته چې ولاړ شه
بیا یې وویل : ساقي ته چې خُم راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه دي نوي، په دې خُم کې چې يې ستايې؟
دا د کومې زمانې اصيل هوما دي ؟
چې يې داسې رسېدو ته په خندا يې ؟
راوړه خُم ، چې د هوما عطر يې نوش کړو
له خاطر څخه مو ورک د غم خروش کړو
زه به ووينم چې دا څرنګ هوما ده
جوړه کړې چې پرې تا داسې غوغا ده.
ساقي ووت، چې خُم راوړي د شرابو
د کک زړه کې نوې تنده پارېدلې
له زرنګه د راغلي خُم هوما ته
ګوره، هه! که مې د غم لښکر تالا کړي
که مې ژوبل زخمي زړه ته ټکور راکړي
که ستومانه روح ته لږ تسلا راکړي
ځوان ساقي به په سوغات ونازومه
ترې زړه به په ډک خُم خړوبومه
څو کسانو د تالار دروازه وا کړه
عجيب خُم يې کجاوه کې رانيولی
دومره لوی خُم کک پخوا نه وليدلی
سينګارشوی په غميو، په رنګ ښکلی
ميناتور پرې د ګلونو انځور شوی
لاژوردي رنګ ګرد چاپېره پسوللی
په احتياط راروان کړی غلامانو
د کک سترګو يې ښکلا و نازوله
د زړه اورته يې سره چينه موندله
خُم يې راوړ مخامخ يې کک ته کېښود
د ساقي سترګو کې پټه څه برېښنا وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقي ډېرو ولولو پسې اخيستی
خوشالي هم اندېښنو پسې اخيستی
چې هوما به د کک خوښه شي که نه شي
خدايزده چا ده را لېږلې له زرنگه
دا د کوم يوه اشنا د لاس ډالۍ ده
د سالار د روح زخمونو ته پټۍ ده
ساقي بيا د خپل بادار درناوی وکړ
په ستاينه د هوما يې بيا خوله واکړه
د بادار عمر دې اوږد شي تر ابده
له زرنگه د استازي پيغام دا و
له ملگريو، يو ملگري د سالار کک
را لېږلې دا ډالۍ تاته ځانگړې
چې په خپل بختور لاس يې سرپوښ وا کړې
لومړنۍ وږمې يې پورته په نڅا کړې
کک حيران دی دې عجيبې معما ته
کوم ملگری مهربانه دومره ډېر دی
چې يوازې يې په ياد، له ټولو هېر دی
دا د ښکلي ذوق خاوند ملگری څوک دی
د هوما په خوند مين ښاغلی څوک د ی
پر خُم ايښی لوی سرپوښ دی د سرو زرو
پرې راتاو دی مهر و موم د څو شاهپرو
کک گام پورته کړ او خُم ته ورنږدې شو
په ځير ځير د ښکلي خُم په ننداره شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم سرود

لوی خُم ایښی دی د کک تر مخې ښکلی
د فانوس ځلا یې ډېر باندې ځلیږي
لمر د غرونو شاته ورو ورو پناه کیږي
ماښام لنډ دی او د کک خاطر خمار دی
نوي خُم نوې هوما ته یې تلوار دی
لاس یې ورو ورو پر زرین سرپوښ راوکېښ
د شاهرپرو مهر ووموم یې په ځیر پرانیست
د سرو زرو پر صفحه رڼا پړقیږي
چلچراغ د فانوسونو پرې وریږي
د کک سترګې ځلبلا د زرو یووړې
د خُم سر یې ترې راواخیست ورته ځیر شو
د هوما عطر یې هېڅ تر مشام نه شول
د خُم خولې نه د سپرلیو وږمه راغله
نوي عطر، څه خواږه ، اوه! څه زړه وړونکي
د سنځلو د ګلونو په شان عطر
نه ! د اصلو ګلابونو په شان عطر
د نرګس یا د چندڼو یا د عودو
د پېغلوټو ګریوانونو په شان عطر
کک حیران شو، کک ساه وویسته ژوره
له ډېر خونده سترګې پټې د سالار شوې
یو ناڅاپه د خُم منځ نه څوک راپاڅېد
د دې عطرو د موجونو په څېر ښکلې
د سپرلیو او ګلونو په څېر ښکلې
خُم نه ووته وږمه د جنتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه راشي مېلمنه له جنتونو
مېلمنه د ادمزادو په خبر نه ده
خدای په خپلو گوتو نقش د دې ایستلی
د هوس له سپین مرمره يې تراشلی
د دې ښکلې له گریوانه عطر اوري
سپینه غاړه يې د مشکو صراحي ده
راوتو کې مخ په مخ شوه پهلوان ته
د کک تود نفس يې خپ ورکړ گریوان ته
د دې پوست بدن يې خوږ په شونډو تېر شو
د شیدو په جام کې پاڼې د گلابو
داسې سپین کې گلابي مخ ور ښږدې شو
پهلوان يې د جنت هوا ته بوته
یو نفس يې بیا د ژوند سبا ته بوته
سترگې پرانیستلې کک ، شاته يې خېز کړ
د ښکلا بله لنبه يې مخ ته راغله
خدای په څه هنر وه ښکلې جوړه کړې
د خدایي هنر جلوه يې مخ ته راغله
تورې زلفې يې ول ول پر سپینو ولیو
هر اندام يې لکه موج د پسرلیو
کک تَرور شو، کک نه وار وپار خطا شو
یو ناڅاپه د ښایست په تماشا شو
خُم نه ووتله، تاو لکه لنبه شوه
ملکه زرینه بله شوه، ډیوه شوه
یو زرین نازکه تاج يې پر سر ایښی
مخامخ پرې سور یاقوت لکه سکروټه
ښکلې سترگې يې چینې وې د رازونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسکه غاړه لکه تکه سپینه بته
په اوبرنګه اسماني جامو پوښلې
لکه لویږي شرشره پر سپینه بکره
تر نازک کمیس یې هر اندام ښکاریږي
د هوس زلزلې راشي چې خوځیږي
دا نازک بدن هوا باندې خوریږي
موج په موج د مینې تریو ته لړزیږي
سپین بدن، تر نیلي رنګې جامې هاخوا
چې ښوریږي، نو خوړل کوي د زړونو
چې قدم واخلي او ښکلې ادا وکړي
هره خوا خپې خورې شي د عطرونو
غواړي کک، چې دې ښکلا ته په ګونډو شي
مست هېلمند شي، ورته راشي، په خپو شي
کک راګیر دی په درې رنګه ولولو کې
ویره ، کرکه ، حیرانتیا کې سرګردانه
دومره ښکلې یې پخوا لېدلې نه وه
د پارس ښکلې، د یونان او روم نازکې
لکه مینځې د دې ښکلې مېلمنې وې
دا سهاکه د دنیا د ښکلو میره
له بابله رانیولې تر کشمیره
ناڅاپي د خُم له منځه ؟ دا څه چل دی
څنګه راغله ، څه به وایي، څه به غواړي ؟
په یوه شېبه کې سل زره پوښتنې
ساقي پر مخې پر زمکه ورته پریوت :
د ساکانو ملکې سترې زرینې !
ستا قدم دې زموږ ماڼۍ ته بختور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساکستان، چې پر تا ویاړي  پر تا پایي
ستا بریا دې سر لوړي د ټول ټبر شي
دروازه کې درې ساتونکي په تعظیم شول
مگر کک لاهسې هک و پک  ولاړ  و
هېڅ باور یې پر نظر پر سترگو نه شي
یوه پېغله څنگه راغله  زما مانۍ ته ؟
دومره  زړه ، دومره جرئت یې څنگه وکړ؟
که زرینه وي ، که لویه ملکه وي
که واکمنه د څلور کونجه دنیا وي
هېڅ ښځمنه زما کور ته راتلای  نه شي
د دې غره له  هوا ساه ایستلای  نه شي
عاقبت د ښځینه وو  دلته  مرگ  دی
وروستی غړ یې له  همدې غره نه راغبرگ دی.
ملکه زرینه ځیر ځیر کک ته گور ي
د سالار ښکلې ځوانۍ ته  فکر  وړې
لوړ قامت، ځیره  ښکلا او زرځې سترگې
ملکې تر دې پخوا لیدلې  نه ده
نرینه ښکلا  تر دې بریده زړه وړونکې
تورې څڼې یې لام لام  پر مخ چارپېره
غنمرنگه ، لکه هسک شمشاد یې  ونه
لکه ښه روزلی اس ، چست  اندامونه
لکه  دوه  پولادي  ډاله  یې سینه  ده
د پیاوړو مټو پلې یې  وسپنیزې
د ځوانۍ فصل یې اوس په رسېدو دی
مېړنتوب یې په رگ رگ کې په څپو دی
گلبویه په بخت سپېره په عقل خامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې یې داسې نومیالی ښکلی خپه کړ
د ساکۍ وینې ځلا یې مخ کې وینم
ملکه روښانه ډېره ده نېکمرغه
چې یې داسې زوی روزلی په لمن کې
زما زړه کې یې څه نوی شور راویښ کړ
په یو ځل لیدو یې څه کانې راو کړې
چې یې داسې پټ احساس په زور راویښ کړ
ټال د خیال کې زنګېده ښکلې زرینه
چې ناڅاپه د کک غږ کړله راویښه
کک د تالندې په څېر په غورهار شو
په غوسه یې ګورز راپورته کړ له زمکې
خو له ځایه یې یو ګام وړاندې رانه غی
غریو نیولې غږ یې شور په تالار ګډ کړ :
تا ته چا ویل ، چې راشه زما ماڼۍ ته ؟
دلته ښځې او دیوان راتللای نه شي
د پیریانو شیطانانو لار تړلې
هم ارواوې د اسمان راتللای نه شي
عاقبت د ښځینه وو دلته مرګ دی
وروستی غږ یې له همدې غره نه راغبرګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم سرود

گورز په لاس او خښمېدلی کک ولاړ دی
له غوسې نه رپېږدېدلی کک ولاړ دی
خو زرینه ، څه ارامه څه بېغمه
په ښایسته شونډو نرۍ موسکا ولاړه
واه ! پتنګ ته د لنبې نڅا ولاړه
د غنچې په شان یې ښکلې خولګۍ واکړه
له خوږو شونډو یې شات و ګلاب توی کړل
ورو یې پیل په پسته ژبه وینا کړه :
زه پوهېږم ، دغه ګورز د غره په شان دی
هر ګوزار یې یو لښکر ته لوی توپان دی
دغه ګورز به پر پیلانو پورته کیږي
پر هاتیانو یا د یوانو پورته کیږي
دا د پېغلې مېلمنې لپاره نه دی
د زرینې بې وسلې لپاره نه دی
زه پوهیږم، چې ستا زړه یې زخمي کړی
ستا ژوندون یې په تیارو کې دی ډوب کړی
د نړۍ نیمه تیاره خوا یې درکړې
ته یې داسې په خپل ژوند پورې حیران کړې
چې دې هېر ښېګڼه ، هیله او وفا کړل
خبر نه شوې، چې تیارې نیمې دنیا نه
هاخوا نیمه دنیا نوره رڼا ورځ ده
هلته مینه ، هلته سوله ، هلته ژوند دی
له انسان سره د بل انسان پیوند دی
نیمه نوره دنیا تکه سپینه مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوبو په ځېر روانه پاکه سپينه
زه راغلې يم تا هلته ورولمه
له دې تکو تورو شپو نه دې باسمه
ستا د غره په ځېر گورز زما د سر نه دی
او نه ته دومره بېوسه پهلوان يې
چې پر ښځو د خپل گورز تنده سړه کړې
دغه گورز د دوښمنانو سر ته بويه
د پيلانو زنځيري لښکر ته بويه
ستا دوښمنو اشکانيانو ملا تړلې
چې لوی بند د ساکستان مو را ويجاړ کړي
ستر زرنگ رانه نيزونو باندې يوسي
د هېلمند اوبه روانې په بلخوا کړي
ساکستان په تنده وچ لکه بيابان کړی
د هېلمند بهير د پارس په خوا روان کړي
د ساکانو اووه تېره يو ځای شوي
چې په ننگه د هېلمند جگړې ته ورشي
زموږ ويره له لښکرو څخه نه شته
اندېښنه د سل پيلانو د لښکر ده
زموږ اسونه ارابې يې د جنگ نه دي
پيل افگن کک له دې هرڅه نه خبر دی
د پيلانو جنگ ته تا سر لښکر غواړو
د هېلمند په ننگه تا نه اشر غواړو.
ملکې چې دا خبرې په پام وکړې
غځونې يې راښکونکي اندام وکړې
خپل زخمي ښکار ته نږدې په ناز ادا شوه
د عطرونو په څپو نوې هوا شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کک یې اوري، لکه بوت خاموش ولاړ دی
د زرینې مرکه یې د روح تل ته
د اوبو د موسیقۍ په څېر بهیږي
د زرینې ښکلی مخ یې مخامخ دی
دومره لنډه ده ولاړه ورته ښکلې
چې وږمې یې د نفس پر ده لګیږي
د یاقوتو غاړه کۍ یې پر سینه ده
هر نفس پستو څپو باندې ښوییږي
کک د دومره ښکلا زور ته نور ټینګ نه شو
د راښکونکي بدن شور ته نور ټینګ نه شو
ورو یې ګورز له لاسه وښوییډ مخ ښکته
خو نارامه دی، غوسه دی او لا ریږدي
یو ناڅاپه یې د غږ تالندې ګړز کړ :
د دنیا نیمه تیاره، چې زه په کې یم
بس همدا زما د هستۍ پټه مانا ده
په تیاره کې به اوسېږم ترڅو مړ شم
ما ته مه رایادوئ، دنیا روښانه
که په هغې نیمایي رڼا دنیا کې
ښځې و نجونې هم اوسیږي، نو دوزخ ده
د ښځمنو په صفت مې باور نه شي
دوی نه تمه د وفا کولای نه شم
پر هغه لښکر به څنګه باور وکړم ؟
چې یې مشره یوه ښځه وي کمزورې
د هغې جګړې میدان ته څنګه ولاړ شم ؟
چې سپاره یې د مېرمنو په بولۍ ځي
د زرینې په اواز کې بدلون راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځل لړ  په قهر جن انداز غړېږي
په ځېره کې يې جديت ښکاري له  ورايه
زړوره، د  هوسۍ په ځېر خرام کړي
کک ته مخامخ  درېږي، داسې وايي :
هو، د ښځې په  بولۍ به ځي جګړې ته!
هر سرتيری يوې مور دی زېږولی
هر سالار ته يوې  ښځې عشق ښوولی
لښکر ټول د خپلې مور په  مينه  مست دی
د وطن مينه  په شان د مور د مينې
د وطن اوبه،  شيدې د مور د تن دي
لکه ته چې خپله مور پرېښته بولې
هر انسان ته خپله مور همداسې بويه
د يوې ښځې جفا، د ټولو نه ده
ټولې ښځې د ګلبويې په ځېر نه دي
ګلبويه پر خپل دريځ بې وفا نه ده
ګلبويې خو ستا زړه ځکه دی مات کړی
چې د خپل هېواد غرور ورنه مات نه شي
ستا د عشق دنيا يې ځکه ورانه کړې
چې اباده کړي  دنيا د خپلو خلکو
پر هغې تر خپله ځانه ټېر ګران و
ستا ټېر يې ځکه ستا تر مخې سپک کړ
وفاداره خپل وطن ته  تر تا ډېره
ګلبويه، د خپل وطن لويه اتله
د هېواد په  مينه  مسته  شهزادګۍ وه
ته يې ځکه له خپل  ځنګه يې شړلی
عشق د ولس او خپل هېواد هغې نه  زده کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننګ پر خپلو خلکو یاد کړه له هغې نه
د هغې کرکه له تا نه بل څه نه ده
د پارتیانو ګټې خنډ وې د دې مینې
تا چې توره پر ساکانو پورته نه کړه
د هغوی کرکه له دې ځایه پیلیږي
هغه څوک چې له خپل ولس سره جنګیږي
بس هغوی به پر پردی کاسه لوییږي
ته هغې ته شوې پردی هغې شېبې نه
چې کڅوالو سره جنګ نه دې سر تاو کړ
تا د خپلو خلکو مینه کړه ترې غوره
په هغه شېبه دوښمن شوې د ګلبوټې
هغه څه چې تا دي کړي، هغې وکړل
هر یوه د خپلو خلکو ننګه کړې
تر دې منځه ستاسو مینه نامراده
تر دې منځه د هېواد مینه شوه کرښه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوارلسم سرود

کک دی هېښ، کک دی د فکر سپلاو وړی
څه هوښیاره ، څه جراره ده زرینه
ما خو داسې پېغله هېڅ لېدلې نه ده
سل حکمته یې په هر ټکي کې نغښتي
په ښځمنو کې دا دومره عقل و پوهه ؟
دا به ښځه نه وي، دا به پرېښته وي
نه نه ښځه ده ، زما د مور په څېر ده
پرېښته خو ما ته خپله مور هم ښکاري
دا دوهمه پرېښته، له کومه راغله ؟
کک د سترگو له کونجونو ورته گوري
تلوسې یې بیا په زړه کې راپاڅېږي
یو ځل بیا ستر پهلوان خبرې پیل کړې
خو دا ځل د تېر په څېر په غوسه نه دی
څه ارامه یې د غړ درنې څپې دي :
بیا د هغې بېوفا نوم راته مه اخله
زما کرکه د گلبویې له نامه شي
مینه کار نه د حکمت ده، نه د عقل
مینه زړه غواړي او زړه خو لوی پاچا وي
د زړه مینه کې هېواد و خلک نه شته
زړه خو ړوند وي ، بس یوازې جانان غواړي
اردوان پاچا پخوا زما دوښمن و
ان د پلار په پاچاهۍ کې یې وه کرکه
گلبویې تر هغې ډېره کرکه وکړه
په تېره چاړه یې خوړ زما گوگل کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د ژبې د چاړې ټپ يې ژور و
دغه ټپ زما په زړه کې لا تازه دی
ملکې د کک ور غوځې کړې خبرې
د نامتو پهلوان لنډ ځواب يې ورکړ:
د ګلبويې مينه نه وه د زړه تل نه
له اوله يې دوستي په بل غرض وه
ستا له مټو يې ساتنه د پارس غوښته
ته يې لومه د خپل حسن کې ساتلې
ته يې جال د خپل ښايست کې وې نيولی
جنګولې يې د خپل وطن لپاره
چې مراد يې نور له تا اخيستی نه شو
بس هغه شېبه يې پرېښودې په لاره
تا ريښتينې مينه هېڅ ليدلې نه ده
تا له زړه مينېدل کله ليدلي ؟
د وطن د مورنۍ مينې په خوند دې
په ټوپونو خپل زړګی نه دی ليدلی
د هېلمند له مستانه څپو دې چېرې
د روح جام په شور و شر نه دی څښلی
ته د خپل ټبر په ننګ جګړې ته ولاړ شه
د خپل ورور د خپل هېلمند ساتنه وکړه
ته د خپل ولس پر سر د وياړ جوغه شه
چې ساکي نجونې دې ياد کړي په بدلو
چې د پېغلو په لنډيو کې اتل شې
هغه وخت به پوه د مينې په مانا شې
د ساکي نجونو د زړونو به پاچا شې
ايله پوه به د ښځمنو په درنښت شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورولي او خور ولي به درښکاره شي
هره ساکه به د خپلې مور په شانې
پرېښته پاکه سپېڅلې در ښکاره شي
دغه کرکه به دې زړه څخه ستنه شي .
ښځه مينه ده ، د مينې سرچينه ده
ښځه ژوند ته يوه ښکلې بهانه ده
هو هو ښځه نيمايي رڼا دنيا ده
د هستۍ او د ژوندون ښکلې مانا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پینځلسم سرود

شپه پخه ده، د ماڼۍ تالار روښانه
لا د کک او ملکې تر منځه شور دی
زرینه لا هڅوي اتل جګړې ته
چې خپل ګورز سره پیلانو ته قیامت شي
چې ساتونکی ساکستان کې د لوی بند شي
خپلخانو سره ملګری د هیلمند شي
خو د کک په زړه کې پټ قیامت جوړ دی
هم غوسه دی، هم خپه دی هم خوشاله
عجیبه ده، هغه تېر هوډ یې مات شوی
یوه ښځه یې ماڼۍ کې ده ولاړه
خو وژلو ته یې لاس نه پورته کیږي
دغې پېغلې خدایزده څه کوډې پرې وکړې
چې دی چوپ ورته ولاړ دی، دا غرېږي
د کک روح کې زورور توپان الوتی
په عجیبه کشمکش کې راګیر شوی
یوه ښکلې یې د ژوند لوري ته بولي
خو بلخوا ښامار د ضد، کرکې ولاړ دی
خپل زندان کې یې د بند لوري ته بولي
اضطراب د کیچه مار په څېر ترې تاو دی
نیم تیاره جهان ته ولاړ شي، که رڼا ته
پټ شي، ورک شي؟ که راووځي دنیا ته؟
زړه نازړه له پټ توپانه سر راباسي
په لړ قهر ملکې ته داسې وایي:
هم له رزمه، هم له بزمه نور ستومان یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غمونو او دردونو یو جهان یم
له انسانه د وفا تمه مې نه شته
له ژوندون څخه مې یو مخ زړګی تور دی
ما د جنګ په باټو مه ننګوه ګوره
ما ته نوم د ښځې مه اخله په ژبه
زه د خپل روح په توپان کې داسې ګیر یم
چې اخته د ځان خوړلو په شوګیر یم
پټ توپان دې زما په زړه کې راویښ کړی
تا خپل ځان سره په جنګ یم اړولی
بوړبوکۍ د نوي شور کې اوس راګیر یم
هو! یا نه ! ځواب اوس نه شم درکولی
ښه به دا وي، چې اوس ولاړه شې له مانه
زغم مې مه ازمویه نور ، یم پریشانه
ښه به دا وي چې اوس پاتې شم یوازې
غوره دا ده چې بې زیانه شې روانه
زما ساتونکي به ملګري درسره شي
زما سمند به دې تر خپله ځایه یوسي
ما بس خپلې دنیاګۍ کې ، ځانته پرېږده
تر دې ډېر به سړیتوب رانه ونه شي
هسې نه کوم لیونتوب راڅخه وشي
خو زرینه خپل زخمي ښکار ته نږدې شوه
په مکیز ادا یې داسې ورته وویل :
نه مې ستا سمند په کار دی نه ساتونکي
زه یوازې وم راغلې، ځم یوازې
زما وروستۍ خبره واوره پهلوانه
اردوان دی راروان له خپل مکانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېپسون کې د لښکرو په چار بوخت دی
سل پيلان يې ټول تړلي په زنځير دي
زمونږ ځارګر يې هر ې چارې ته په ځير دي
بله مياشت کې چې سپوږمۍ د ځوارلسم شي
د فراه پولو ته دوی رانږدې کيږي
موږ يې مخه د فراه دښته کې نيسو
زمونږ جګړه به له همدې ځايه پيليږي
پيل افګنه ! پهلوانه ! چې ته راشې
له خپل ګورز سره به تندر او برېښنا شې
تور قيامت به د پيلانو پر لښکر شي
د پارتيانو لوی پرتم به در په در شي
د هېلمند رڼې څپې به ټپې وايي
ښکلې پېغلې د ساکانو به تا ستايي
بله مياشت، چې ځوارلسم سپوږمۍ شي بره
زه به دښته د فراه کې يم په تمه
ستا به لاره په خوږو سترګو ځارمه
د ساکي پرتم ملاتړ ته دې بلمه
ستا وجود کې ده ساکي اتله وينه
راولې دې خامخا د هېلمند مينه
اوس نو ځمه تا په خدای سپارمه ګرانه
پهلوانه ! د ساکانو قهرمانه !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم سرود

بیا د کک راپاړېدلې وسوسې دي
ولولې دي ، پټې پټې تلوسې دي
نابللې مېلمنې بیا لیونی کړ
په یوه شپه کې یې جوړ ترې بل سړی کړ
کک د نویو احساساتو په ټال زانګي
د ملکې زرینې ښکلا لوټلی
یو ځل بیا یې زړه نرۍ نرۍ تخنیږي
دا زړګی څه بوالهوسه ملامت دی
کله دلته کله هلته مینیږي
د ګلبوېې د بېلتون غم لا تازه دی
چې د بلې په پیکي پورې زنګیږي
خو دا ځل خبرې نورې کیسې نورې
تش مین د زرینې په ښکلا نه دی
دغې پېغلې یې په روح کې ویښه کړې
د هېواد او د ټبر نوې جذبه ده
دا ځل مینه د هېلمند او ساکستان ده
دا ځل عشق د یوې بلې خوږې مور دی
د غیرت دی هم د ننګ او د پېغور دی
دا ځل نورې مینې ډېرې زورورې
د دوښمنو له تور نیته اندېښنه ده
د ګلبوېې او زرینې توپیر ډېر دی
شهزادګۍ وه بوالهوسه، دروغجنه
پوهه لږه، کبرجنه، په زړه سخته
خو ملکه زرینه په سیاست پوهه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټبر پر درد دردمنه ، لږ مغروره
د هېلمند په اوبو وتې ملا تړلې
د ساکانو د یووالي ارمانجنه !
زرینه یوازې ښکلې پېغله نه ده
زرینه یوه هوښیاره ملکه ده
ښایي دا به جاذبه د ګډ ټبر وي
ښایي دا به وي خپلوي د ګډې وینې
ګلبویه په وینه بل څوک وه پردی وه
اه! د مینې او د وینې څه توپیر دی
ما ګومان کړ چې ډېر لوی انسانیت دی
په دې منځ کې به د وینې خپلوي نه وي
قومیت به انسانیت کې نه ځاییږي
عشق به نه پېژني پولې د خپلویو
ما ګڼله، چې تر هر څه زورووره
له انسان سره د بل انسان ده مینه
عاطفه به نړوي د ټبر پولې
ما ویل هر انسان به ګران په بل انسان وي
هی ارمان چې داسې نه ده، داسې نه ده
هر انسان ته خپل ټبر تر نورو ګران دی
دا مې ولیدل چې څنګه یوه پېغله
ځاروي تر خپلو ګټو خپله مینه
قرباني کړي خپل مین تر خپل هېواده
وژني خپله عاطفه د ټبر مخ ته
څومره سخته، څومره ستوغه دا پوښتنه
یو خوا مینه د هېواد او د ټبر وي
بلخوا عشق لکه معبود د زخمي زړه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې دواړو تر منځ کوم يو رااخلې
ګلبوېې په کې هېواد و ټبر واخيست
اور يې پورې د خپل زړه پر دنيا ګۍ کړ
زه يې وشړلم زړه او حافظې نه
خو زرينه خدايزده راغله له کوم ځايه؟
يو ناڅاپه يې بدل زما جهان کړ
زه يې وويستم له پوچې دنياګۍ نه
زه يې راوستم له ځانه بېرته ځان ته
خوبولی، ليونی او مستانه وم
زه يې ډوب کړم د هېلمند سړو اوبو کې
يو ناڅاپه يې له ضده رابهر کړم
کړم لاهو يې د يو بل عشق په څپو کې
زه يې راوستم او بېرته يې سهاک کړم
د هېلمند په ننګ يې پورته کړم له زمکې
د هېواد په عشق يې ښکته کړم اسمان نه
زه يې بېرته پر پښو ودرولم
يو ځل بيا يې مخامخ کړم و دوښمن ته
د عشق نوی شور يې ويښ کړ زما په روح کې
يو ځل بيا يې هيله من کړمه ژوندون ته
پر دوه لارې يې حيران يم درولی
نن څه وکړم او سبا ته چېرته ولاړ شم؟
چې بل ځلې څوار لسمه سپوږمۍ خيژي
چې د تورو شرنګی پورته شي فراه کې
د هوما د خُم تر څنګه غمجن کينم
که ګورز واخلم د هېلمند په ننګ ولاړ شم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووه لسم سرود

آه! چې عشق څه زورور توپان د روح دی
اوف، چې مینه څه کوډګره سره بلا ده
ملکه هېڅ وخت نارامه داسې نه وه
بې هېلمنده، بې هېواده، بې له خلکو
هېڅ یو شور یې په زړګي کې کله نه و
خو اوس بل ډول خوبونه پریشان ویني
څه زړه وړونکي، څه خواږه خوبونه
لومړی ځل یو نارینه ورته خوږ ایسي
لومړی ځل دی چې یو څوک یې خیال کې ګرځي
ملکه له څه مودې بدله شوې
پرځان پام کوي، سینګار یې ډېر خوښیږي
تر پخوا یې خلوت زیات دی، وي یوازې
کله کله بس له ځان سره لګیا وي
کله سره شي، کله پټه موسکا وکړي
کله کله لوړ قامت پر سمند ویني
چې یې څنې پر سورلۍ باد ته نخیږي
د یو چا عجیبو سترګو ترې خوب وړی
د یو چا له غوسې ډکه څېره ګوري
قهرجن کاته د چا یې رایادیږي
یو ناڅاپه ځان راویښ کړي، هرڅه هېر کړي
غواړي ببرته خپل جهان ته راستنه شي
دا هرڅه تش لیونتوب ورته ښکاره شي
بیا هېلمند وي، بیا وطن وي، بیا ساکان وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا جګړه د ساکستان او اشکانیانو
بیا پیلان د اردوان تر مخې راشي
تر جګړې پورې یوځو ورځې دي پاتې
اوګزریاځ د لوی لښکر چارې سنبال کړې
د غشمنو، د ډال والو، نیزه والو
د ځلوینښت زره سپرو، د ډېرو پلیو
د لرګینو لویو لویو منجنیقو
د ساکي خېلخانو ټول سالاران غونډ دي
شور و زوږ یې د جګړې پر ځرنګوالي
د ساکي مېرمنو لوی لښکر راټول دی
ورسره د اوبو ژی او تنورونه
تېره کړي واستاکارو نیزې غشي
ټکېدلې اور کې پلنې تېرې تورې
د سرتېرو کوزړی له هوما ډکې
ملاوستنیو پورې ځوړندې پیالې دي
اوګزریاځ د ټولو چارو ډاډ ورکړی
بس یوازې د پیلانو کیسه پاتې
کک به راشي که به رانه شي جګړې ته
ټول لښکر سره دا لویه اندېښنه ده
لښکر څه چې د ساکانو اووه ټبره
لارې ګورې، ګوندې راشي پهلوان ستر
لا خبر د هو! یا نه ! راغلی نه دی
پیل افګن کک لا یوازې دی مانۍ کې
خوارلسم د میاشتې ورو ورو نږدې کیږي
د فراه خواته لښکر سبا کوچیږي
ولولې دي په ځپو د ټولو زړو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا جګړه د مرګ وژوند لویه جګړه ده
د هېلمند اوبه خو ژوند د ساکستان دي
اردوان دی راروان چې هېلمند لوټ کړي
ملکه د اندېښنو څپو لاهو کړه :
کک به راشي د پیلانو دې جګړې ته ؟
موږ به ناڅاپه راووځو په فراه کې
د بند لاره به کړو بنده په پارتیانو
پیل افګن که پیلان دلته په ګونډو کړي
اردوان به له فراه څخه تېر نه شي
د هېلمند څپې به ځي په خپل بهیر کې
ساکستان به وي سمسور په شنو باغونو
ان له بُسته تر زرنګه به بیلیږي
ډېر لیښتي، لویې ویالې له شنو نهرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتلسم سرود

د فراه پراخه دښته لکه رغوی
بېگاه شپه د ځوارلسم وه، سپوږمۍ سپینه
اوس سهار دی، خو لا لمر ختلی نه دی
د لویدیځ خوا ته وړې ټیټې غونډۍ دي
د غونډیو ترشا، لرې په افق کې
د اسمان خواته نرۍ دوړه ښکارېږي
ختیځ خوا ته، یوه هسکه پرښه باندې
د ملکې زرینې کېږدۍ ولاړه
څو سپینږیري مخور یې تر څنگ ناست دي
ملکې نن د جگړې جامې اغوستي
اوگزریاځ د ملکې تر څنگ ولاړ دی
د لویدیځ لرې افق ته په ځیر گوري
د غونډیو تر شا دوړه ورته ښیي
دغه دوړه د پارتیانو د لښکر ده
درنه دوړه ښیي دا چې سپاره ډېر دي
د پیلانو درون کاروان هم ورسره دی
له ختیځه لا لمر څرک نه دی وهلی
چې له لرې د لویدیزو لوړو شاته
د لښکرو د پښو دوړې نږدې شوې
درې څلور منزله لرې ، له یو بله
دوه لښکره شرنگوي تورې او زغرې
بې خبره دی لښکر د اشکانیانو
ځي چې بند د ساکستان ته ورنږدې شي
د فراه او بست تر منځه هلته لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيلانو په زور مات د هېلمند بند کړي
خو خبر نه، چې ساکانو لار نيولې
له زرنگه تر فراه پورې راغلي
اشکاني لښکر مغرور دی، کبرجن دی
د پيلانو لوی لښکر باندې نازېږي
هر يو پيل يې لکه غر داسې روان دی
زغره وال سرتيري دوه کتاره درومي
د پيلانو کاروان ساتي له يرغله
اشکاني لښکر روان دی څلور برخې
لومړۍ کرښه زغره وال غشي ويشتونکي
ورپسې دي گڼ سپاره چټک سرتيري
منځ کې سل پيلان روان دي لکه غرونه
څلورم کتار کې گڼ پلي روان دي
د سپرو لومړی کتار کې هسک بيرغ دی
د بيرغ تر څنگ يو چتر د بخملو
تر دې چتر لاندې ناست پر يوه تور اس
اردوان پاچا روان په ډېر غرور دی
ديخوا مشر د ساکانو اوگزرياځ دی
د تيشخولو د ټبر هغه ستر مشر
چې ساکانو کې هوښيار هم زړور دی
د ملکې زرينې زړگی درزيږي
انديښنې يې د زړه ورو ورو لا زياتيږي
چې د کک پرېکړه به څه وي؟ څه به وکړي؟
زما مينه به يې زړه کې وي پرېوتې ؟
زما ليدو ته به يې زړه کې تلوسه وي ؟
د خپل قوم او خپل هېواد په ننگ به راشي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرينې د ورتلو خاطر به وکړی؟
ما خو ډېر په ډاډ ساکان جنګ ته راوستي
د سالار کک پر وفا مې شرط تړلی
خدايه ما مې خپل ولس ته کمه مه کړې
سالار ککه ! نن چې ورځ د مرګ و ژوند ده
لا تراوسه دې خبر د راتلو نه شته
اوس چې دوړې د دوښمن د لښکر ښکاري
اوس چې غږ يې د ګامونو اوريدای شو
خو ته نه يې ، نه دې وهم د ګورزونو
اوس چې اورو هوی وهای د سل پيلانو
نښې نه شوې راښکاره ستا د ګامونو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نولسم سرود

لمر لومړۍ زرينه ځړيکه له غره وکړه
د فراه هواره دښته لکه رغوی
لمرخاته خواته يو سپل مرغۍ راتاو شوې
د سهار وړمه پسته پسته لګيږي
ګډ د ترخې او سونګوري بوی يې راوړ
د وړې ځرمښکۍ ځپ شو، لار يې وکړه
په پسته دوړه کې ولاړه او پناه شوه
جارو بوټي لاندې چټکی په هوا شو
ټولې سترګې لمرلويده لوري ته ځير دي
د وړو غونډيو منځ کې لار ته ګوري
د ساکانو د غشمنو لښکر خور شو
شمال لور ته غځيدلي واړه غرونه
کماندار غشي ويشتونکي ساکان راغلل
د دې ټيټو غرو پر وليو يې مورچې شوې
اوګزرياخ ورته د لارې کرښه ښيي :
بس لومړۍ ځپه چې راشي د پارتيانو
يوناځاپه پرې د غشيو باران جوړ کړئ !
له دې ځايه ټول لښکر دی تر ځار لاندې
نيزه وال يو ځو سپاره به درسره وي
چې د غره لمنې وساتي دوښمن نه
اوګزرياخ پر ايره يي اس چست چالاکه
له يو اړخه دی په منډه ځي بل اړخ ته
د جګړې شيبې ورو ورو رانږدې کيږي
د ملکې زرينې زړګی دربيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سهار لومړنۍ وړانګې راخورې شوې
مخامخ غونډۍ له ورایه اوس ښکارېږي
یوناڅاپه د بیرغ څوکه ښکاره شوه
بیا ورو ورو د نیزه والو نیزې راغلې
د سپرو سرتېرو ښکاري اوس سرونه
اوګزریاڅ مخامخ ګوري لوی لښکر ته
زرینه پر هسکې پرښې ده ولاړه
د جنګي کېږدۍ درشل کې لښکر څاري
د ساکي خېلخانو نور مشران یې څنګ ته
د پارتیانو د لښکر سرونه شماري
شور و زوږ د لوی لښکر په غوږو اوري
د پښو خرپا، د تورو شرنګا خيژي
یوناڅاپه راښکاره شول غرونه غرونه
سل پیلان په زنځیرونو دي تړلي
پیلبانان یې پر څټ ناست دي زنګېدلي
د هر پیل تر مخ په منډه خادمان دي
د لښکر له ګامو خیژي خړه دوړه
له غونډیو لوېې دښتې ته کوزېږي
د زرینې تر دریځ په منډه راغی
اوګزریاڅ په ادب کوز شو ملکې ته:
عمر اوږد د ملکې شه تر ابده
زموږ لښکر پر لوړو سیمو ځای پر ځای دی
د غشمنو مور چې ټینګې دي په غرو کې
سپین لوګی چې د کېږدۍ تر څنګه پاڅي
نو توروم به د جګړې د پیل پو کړو
ملکه د اندېښنو په ټال زنګیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس یوازې يې د ( هو!) اشاره وکړه
اوګزرياخ د اس په منډه ببرته ولاړه
د کاسيانو يو سپينږيري مشر وويل:
ګومان نه کړم، چې به کک جګړې ته راشي
تر دې وروسته يې په تمه نه پاتېږو
د ملکې زرينې عمر دې اوږد شي
چې دوښمن زموږ د غشمنو بريد ته راشي
حکم ورکړئ ، چې سپاهيان سپين لوګی وکړي
د کاسي مشر وينا وه لکه غشی
ملکه يې په زړه بيا بيا ژوبلوله
د وروستۍ هيلې کمزورې پلوشه يې
د زرينې روح کې ورو ورو قتلوله
د پارتيانو لښکر نابېره تم شو
تر لښکر وړاندې څارګرو خبر ورکړ
مخامخ يې د ساکانو لښکر وليد
د جګړې کېږدۍ يې وليده له ورايه
ناڅاپي يې د فراه دښته کې پام شو
چې ساکانو ورته لاره ده نيولې
يو منزل دي دوه لښکره سره لرې
اشکاني لښکر د تللو خيال بدل کړ
د سپرو يو لوی لښکر يې کړ راوړاندې
ناڅاپي يې د وړو غرو خوا ته مخ کړ
په دې نيت چې له دې لوړو پرې ورتاو شي
د سپرو لښکر چې راغی د غرو بريد ته
ملکې اشاره وکړله اورتون ته
سپاهيانو کاغذي واښه لنبه کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تک سپین دود شو د کېږدۍ له اړخه پورته
د توروم لوړې نارې انګازې وکړې
او غشمنو غشي وټومبل لیندۍ کې
په یوه شېبه کې پورته شغهار شو
د اسمان خواته زرګونه غشي ولاړل
د پارتیانو د سپرو لښکر په ځغاسته
د ساکي لښکر په لوري را روان و
د سهار لمر پړکولې سپینې تورې
چې ناڅاپه له اسمانه باران راغی
د برېښنا په څېر د غشیو توپان راغی
په سلګونو سپاره پرې اېستل اسونو
غشیو وویشتل پارتیان په ځیګرونو
بل ځل بیا غشمنو غشي په لیندۍ کړې
بیا یې جوړ کړ پر سپرو باران د غشیو
یو څو پاتې ټپي شویو سپرو هی کړل
بېرته شاته د پارتي لښکرو خواته
اردوان په ننداره و د دې ټولو
د مرګ کومي ته پراته د ده سپاره وو
افرین یې په تدبیر کړ د ساکانو
په مغرور انداز یې وموسل لښکر ته
د وحشي ساکانو ترپ دی او یا خرپ دی
دوی لا خوند زما د ګوزار لیدلی نه دی
دوی خبر لا په دې نه دي چې زه څوک یم ؟
د ارشک (۲۳) د لوی کاله ستر شهنشاه یم
د پارتیا د لوی لښکر تر مخ روان یم
د رومیانو او مصریانو ماتوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بابل او ارمنیانو ایلوونکی
اردوان د خپل لښکر سالار راوغوښت
قهرجن او په لوړ غږ یې ورته وویل:
د غوبه و، پوونده و لښکر څه دی
چې زما مخې ته داسې ودرېدلی؟
زما سپاره یې ګڼ په غشیو راګوزار کړل
دوی لا خوند زما د جګړې لیدلی نه دی
زما په لاس یې د مرګ درد څکلی نه دی
د پیلانو لوی لښکر راولئ مخ ته
زنځیرونه ورپرانیزئ پښو نه
ترنګړونه ورته واغوندئ د زغرو
هر یو پیل داسې په وسپنو کې پوښ کړئ
چې د غشیو هم د تورو لار ترې نه شي
پر پیلانو قهرجنې کریغې وکړئ
چې له ویرې نه وحشي شي او سر واخلي
مخامخ یې پر ساکانو کړئ ورخوشې
لوی لښکر یې تر پیلانو لاندې دل کړئ
د سرتیرو ککرۍ کړئ پښو لاندې
اندامونه یې تر پیل لاندې لتاړ کړئ
نیزه وال او پلي بېل شول لار یې وکړه
د پیلانو لوی لښکر یې کړ راوړاندې
خادمانو لویې زغرې راخورې کړې
د ساکانو ښارګر غره نه ورته ګورې
اوګزریاخ د نیزه والو ټولی راوست
د لښکر تر مخ یې ټول پر زنګون کېښ کړل
نېزې مخامخ دوښمن ته شولې نېغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوگزریاخ لا باوري پر خپل تدبیر دی
پټ په زړه کې وېرېدلی له پیلانو
خو لا هغسې چالاک د جنګ په کار دی
د سهار لمر اوس یوه نیزه ختلی
د زرینې ناکراره زړه دربیږي
مخامخ هلته پارتیانو ځان چمتو کړ
د پیلانو لښکر جوړ شو، راخوځیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم سرود

تر کېږدی پورې د وینو وږم راغی
اشکاني سپاره پراته د غره لمن کې
له زخمي اسونو لاره ورکه شوې
بې سپرو هره خوا ځغلي په ډار وهم
زرينې سترګې کړې پټې غوږ يې ونيو
چېرته لرې يې تر غوږ د سيند څپې شوې
د هېلمند د شرهار اواز يې واورېد
د لومړي ګوزار لپاره هېلمند خوښ دی
لکه سيند چې منندوی وي له ساکانو
د پيلانو انديښنه لا پر خپل ځای ده
ملکې ژر سترګې پرانيستې افق ته
مخامخ دي راروان لکه د غرونو
سل پيلان په زغرو پوښ په غورځنګونو
راروان دي، چې ساکي لښکر چيکړ کړي
تر ګونډو لاندې سرتيري، بولندوی کړي
او بيا ورشي د هېلمند د بند په لوري
زړونه يخ د دغه بند په ورانېدو کړي
نيزه واله ساکان کېښ پر ګونډو ناست دي
د نيزو تېره سرونه يې نيولي
هغې خوا ته چې پيلان پرې راروان دي
ټول پوهيږي، چې پيلان پرې نه ژوبليږي
نيزه وال به بلهاريان د ټول لښکر شي
خو ساکان د ويرې ، تېښتې خلک نه دي
د هېلمند په ننګ يې مرګ پر ځان منلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکه هرڅه ته ځیر ده ، برندې ګورې
یا به ټول مرو د پیلانو تر پښو لاندې
یا به بېرته اشکاني لښکر ستنیږي
یوناڅاپه کوم ساکي سالار نارې کړې :
هلته ګورئ! له جنوبه څوک رادرومي
د زرینې زږګی تُند په دربېدو شو
یوناڅاپه له خپل ځایه شوه ولاړه
وارخطا یې څو ګامونه کړل ورپورته
د کبږدۍ کینې اړخ ته تاوه شوه په منډه
د جنوب له خوا پراخه لویه دښته
لکه رغوي ته چې ګورې داسې ښکاري
خورا لرې پر اس دنګ سړی رادرومي
لکه غر داسې د جنګ سړی رادرومي
یو لوی ګورز یې پر اوږه دی اړولی
د سمند له هر یو ګام یې سپرغۍ خیژي
تورې څښې یې له باد سره نڅیږي
له ډېر لرې یې پرتم له ورایه ښکاري
د ساکي لښکر له هره ځایه ښکاري
پر پراخه دښته داسې راروان دی
لکه غشی وي روان د باد پر څښو
لکه تېزه ببړۍ هسکه پر څپو وي
لکه تُند شاهین چې الوځي اسمان کې
په نڅا یې د سمند اوږده یالونه
د ګوربت بڼه یې هسکه پر جوغه ده
مخامخ دی راروان د لښکر خوا ته
اوس یې غږ راځي له ورایه د تراټونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هوا کې يې د ګورز هيبت خوريږي
څه پرتم لري دا سپور زلمی چې ښکاري
عجيبه وېره په زړونو کې پرېباسي
هېڅ انسان دومره اغېز لرلای نه شي
مګر دا چېرته له نسله د اسمان دی ؟
که د ښکليو ښاپېريو او ديوانو
د کېږدۍ تر خوا د ټولو سترګې برېښي
د زريڼې زړګی تند تند لا دربيږي
ولولې دي، خوشالۍ دي احساسات دي
چې يوځای پر زريڼې باندې يرغل کړي
د جانان قامت يې وپېژاند له ورايه
څاڅکي اوښکې يې له سترګو رابهيږي
سپور له ګورز سره په منډه راروان دی
د جګړې ډګر ته مخامخ رادرومي
څه چټک، څه پرتمين، څه وهمناکه
لکه تندر را روان دی را رسيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یویشتم سرود

یو شاهین پر لویه دښته بیا راتاو شو
دوه هوسۍ په منډه وختلې غره ته
غرنیو بوټو ونځل هوا ته
د فراه پراخه دښته ده هواره
لمر ځلیږي، خو ګرمي لا ډېره نه ده
د سرتېرو زړونه ډک له اضطرابه
زغره وال پیلان بس څو ګامه دي لرې
په وحشت په لیونتوب وهي رامنډې
د ساکانو د لښکر خوا ته رادرومي
پر سمند پرتمین سپور په منډه تېر شو
یو نظر یې ملکې ته مخ راواړاو
د کېږدي تر مخې تېر د باد په څېر شو
زرینې له اوښکو ډکې سترګې یووړې
پر جانان یې د خواږه نظر برېښنا شوه
هسک د غره په څېر سپور، ورغی په منډه
د پیلانو یاغي شوي لښکر مخ ته
سهمناکه ګورز یې تاو کړ له خپل سره
اوګزریاخ هم پونده ورکړله خپل اس ته
شل سپاره نیزه وال هم په ده پسې شول
د پیلانو وحشي شوی لښکر راغی
پوښ د وسپنې د زغرو په ترنګړو
لومړنی پیل مخامخ په کک راتاو شو
لکه تندر یې پر سر د ګورز ګوزار شو
پر تندي د ګورز ګوزار سره ایسار شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل پر ځان لکه زخمي ښامار راتاو شو
په یوه گوزار راپریوته پر زمکه
نېزه والو د پیلوان سینه کړه نښه
کک د بل پیل خوا ته تېر په ډېر تلوار شو
اوگزریاخ له ډېر ه ځوښه چیغه وکړه
خپل لښکر یې شاته وویست د غره خو اته
د پیلانو غویمنډ جوړ پر همدې ځای شو
کک پر بل او بیا پر بل پیل گوزار وکړ
د سالار سمند لښکر کې د پیلانو
داسې الوځي د مست گوربت په شانې
پهلوان کک یې ولاړ پر رکابونو
تاووي د غره په څېر گورز له خپل سره
هر گوزار یې د پیل سر یا زنگون مات کړي
زغره وال ترنگړ یې ننوځی مغزو ته
هیاهو ده ، شرنگهار دی او دربا ده
د کک هووو !! ده، د سمند یې شیشنهار دی
اوگزریاخ او نیزه وال هم ورپسې دي
پیلوانان دي تر پښو لاندې دل شوي
خپل پیلان ورته بلا شول له هیبته
کک لا گورز له سره تاو کړي غورځنگ وکړي
د بل پیل د ملا هډوکي په خرپ مات کړي
گڼ پیلان له ډېره وهمه هر خوا تښتي
څه یې ببرته د پارتي لښکر په لور شول
څه یې مات و گوډ ولاړ دي او ستمیږي
څو یې دښته کې خواره واره په تېښته
پیلوانان د ځان له ډاره ترې خواره شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځه یې راغلل لاس ټرلي تر ساکانو
د کک گورز په وینو سور دی د پیلانو
لا یې هم له سره تاو کړي ، گوزار وکړي
اردوان هرڅه په رډو سترگو گوري
له هر پیل سره یو ټس تندي ته ورکړي
اردوان خپل دوښمن وپېژاند له ورایه
د کک گورز یې پېژانده له ډېر پخوا نه
دا له کومه شو ؟ او دلته څنگه راغی ؟
څنگه پریوت له اسمانه لکه ټکه
لکه تندر راگوزار شو له فلکه
اردوان له پیلوانانو خپل پیل وغوښت
اس نه کوز شو، پر شاهي پیل باندې سپور شو
مخامخ یې له سپرو سره ور هی کړل
د کېږدی په لور روان شو په ډېر خښم
ملکې چې اردوان ولید له لرې
د خپل اس او پلنې تورې غږ یې وکړ
زرینه د جنگ کېږدی پردې ته ولاړه
شېبه وروسته هسکې پرښې څخه لاندې
څو سپاره پر اس راښکته شول ډگر ته
یو نقاب پرمخ چټک سپور یې ترمخ و
د ساکي ټبر مشران هم ورپسې ول
نقاب پوښه لکه چټکی داسې تېز دی
مخامخ د اردوان په لوري ولاړل
اردوان نیزه په لاس توره ترملا دی
د خپل پیل په کجاوه کې نېغ ولاړ دی
کک لا گورز تاو کړي له سره، پیل گوزار کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوناڅاپه يې ورپام شو اردوان ته
مخامخ ورته سپاره ساکان ښکاره شول
نقاب پوښه سپور يې ولیده چالاکه
اوګزرياڅ ته يې په بېړه لاس اوچت کړ
ته ورځه! د ملکې ملګرتیا وکړه
ما یوازې له پیلانو سره پرېږده
اردوان په ملکې پسې روان دی
لښکر بوځه د میدان منځ ته ورکوز شه !
اوګزرياڅ په ډېره بېړه اس راتاو کړ
اندېښمن دی، کک یوازې څنګه پرېږدي؟
دا دې څنګه ازموینه کې راګیر کړم؟
خدایه تا ته مې سپارلی پهلوان کک
اوګزرياڅ لښکر روان چست و چالاک کړ
مخامخ د اردوان په لوري ولاړل
نقاب پوښه سپور پر سپین اس مخامخ شو
اردوان نیزه ګوزار کړه د سپور خوا ته
د سپور ډال د اردوان نیزه کړه کړه
اوګزرياڅ لکه سیلاو پرې راروان دی
دوه لښکره سره اوس غاړه غړۍ شول
تورې پورته شوې، نیزې شنې په هوا شوې
د اسونو شیشنهار ، د پلیو شور دی
په دا منځ کې اردوان پر پیل خرام کړي
لکه مچ د غره پر سر داسې ښکارېږي
نقاب پوښ سپور ته حیران دی، چې دا څوک دی؟
څه چالاکه ، زړور دی څومره تېز دی
د جګړې په هنرونو ښه پوهېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو پارتي سپاره یې پرېباسل له اسه
اردوان د کېږدۍ خوا ته ورتلل غواړي
نیت یې دا دی، چې زرینه راپیدا کړي
غواړي ونیسي ژوندۍ ښکلې زرینه
د هېلمند ها ساتندویه ، هغه سپینه
خو دې سپور پر مخ نقاب او څو یارانو
د کېږدۍ خوا ته د ده لاره نیولې
اردوان له غوسې مار غوندې تاوېږي
ښه اوږده شېبه جګړه د دې ټولي وه
د پاچا لار یې تړلې وه کېږدۍ ته
هاخوا لرې کک لا جنګ کړي د پیلانو
د زخمي پیلانو شور دښته کې خپور دی
د کک ډېره اندېښنه ده ملکې ته
زرینه ترې ورکه شوې په جګړه کې
خدایه! څه شوه زما د ژوند وروستنۍ هیله؟
زه د دې په غبږ جګړې ته یم راغلی
زه د دې ښایست بیا ژوند ته یم راوستی
خدایه! وېې ساتې ، ته یې ساتندوی شې
بې زرینې ژوند تیاره دی، بې مانا دی
بې زرینې ژوند قیامت په دې دنیا دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ویشتم سرود

سره غرمه ده، څرمښکۍ سیوري ته ځغلي
دوه شاهینه د غره ځالې ته ستانه شول
خړ کربوړی پر ډبره څک کیږي
په هوا کې تود د وینو وږم خپور دی
لا په دښته کې شرنګا د تورو خیژي
ګڼ سر تیري د پارتیانو مړه، ټپیان دي
اردوان لا د زرینې په لټون دی
نقاب پوښ سپور یې لا ګرد تر پیل تاویږي
اردوان پر نقاب پوښه سپور خښمیږي
خپل شاهي پیل یې راتاو کړ پرې ناڅاپه
پیل درنه پښه را کوزه پر سپین اس کړه
اس په ملامات شو او سپور ترې راګوزار شو
نقاب پوښ جنګیالی ولویده په خاورو
په لویدو کې یې د مخ نقاب شو لرې
ول ول ووتې له خوده تورې زلفې
یوناڅاپه د زرینې مخ ښکاره شو
لکه ښکلې د سیند بته، تکه سپینه
ببرته چسته راولاړه شوه زرینه
اردوان له حیرانتیا ګوته پرغاښ کړه
هغه څوک یې چې غوښته په اسمانونو
خدای ورکړې وه پر زمکه راپرېوتې
ملکې د تورې لاستی لاس کې ټینګ کړ
یو پارتي سپور اس د دې خواته راهی کړ
ملکې په یو ګوزار له اسه پرې یوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

اردوان په مکر جنه خندا موسک شو
شاهي پيل يې ورو ورو وړاندې را رهي کړ
اوگزرياخ له څو پارتيانو سره ښکېل دی
يوناڅاپه يې زرينې ته ورپام شو
په جگړه جگړه يې ځان ورته نږدې کړ
يوه بله ډله راغله د پارتيانو
د تېښخوليو له سرداره گرد راتاو شول
اوگزرياخ يې بيا په جنگ باندې اخته کړ
شاهي پيل رانږدې کيږي ملکې ته
د زرينې ساکي وينه په غورځنگ ده
ماساگيته سکه لور د تايمرېس ده
ملکه په ويره هېڅ نه ده خبره
مخامخ د اردوان پيل ته ولاړه
په ډېر خښم اشکاني پاچا ته گوري
پيل نه گرد چاپير تورزن دي د پارتيانو
نيزه والو کړۍ کړی خپل پاچا دی
د ساکانو له تورزنو نه يې ساتي
اوگزرياخ د لښکر منځ کې لا جنگيږي
يوناڅاپه کړۍ ماته شوه له شانه
څو سپاره پارتيان راپرېوتل پر زمکه
د پيل شاته پر سمند کک راښکاره شو
سور په وينو له لوی گورز سره راهسک شو
اردوان لا په مکاره خندا موسک دی
مخامخ يې پر زرينې سترگې خښې
پيل روان دی ، د پاچا په لاس کې توره
د زرينې لاس کې هم توره ځليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوناڅاپه کک ناري کړلې: هی!! یاهو!
گورز په یو گوزار د پیل پښه کړه ماته
پیل را نگوښي، د پاچا ډولۍ کړه شوه
بل گوزار د پیل پر بله پښه راغی
د زنگون د ماتېدلو یې خرپا شوه
پیل د غره په څېر راو نړېد پر زمکه
د پاچا ساتونکي لرې شول په ځغاسته
اردوان ښکته پر زمکه رانسکور شو
سمند وشپشنېد پر دوه پښو راهسک شو
کک یې گورز سره تر نیم اسمانه لوړ کړ
وړاندې راغی ملکې سره ارام شو
کک له اسه لږ ورکوږ شو خپل جانان ته
یوناڅاپه یې نرۍ ملا نه لاس تاو کړ
زرینه یې چسته پورته کړه سمند ته
ملکې تر خپل جانانه لاس چارپېر کړل
سمند بیا هسک شو پر دوو پښو باندې
له میدانه د وتلو لاره گوري
لوړ بیرغ د اشکانیانو را پریوتی
اوگزریاڅ شو مخامخ زخمي پاچا ته
اردوان د سالار سترگو ته چې ځیر شو
له هیبته یې لړزه پر بدن راغله
د تیشخولو سردار ودرېد پاچا ته
چې ژوندی یې لاس ترلی راروان کړي
خو ناڅاپه اردوان توري ته لاس کړ
اوگزریاڅ یې سر سري پر مټ ټپي کړ
د تیشخولو سردار توره پرې راتاو کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لښکر تر پښو لاندې يې سر ورغښت
هياهو له بريمن لښکره ووت
د ساکانو بېرغ پورته شو درې رنگه
اشکانيانو کړې گوزار تورې پر زمکه
جگړه ودرېده ، سرتيري په غوغا شول
د ساکي سوبې خوښۍ ته په هاها شول
***
مازيگر د اسمان څنډې تکې سرې شوې
لکه لمر ته وي شيندلې ډېرې وينې
خونړۍ ورځ پر فراه ده تېره شوې
خړه دښته په سرو وينو رنگېدلې
د پيلانو مړي ښکاري غرونه غرونه
ټپوسان له لرې لرې راروان دي
په ناوونو کې نارې دي د گېدړو
د ساکي لښکر کېږدۍ دي پلنې شوې
د هوما خُمان يې کوز کړل له اوښانو
نن ماښام به د سرتېرو مجلس جوړ وي
څوک به مستې ټپې وايي څوک سندرې
هر ټبر به کوي خپل خپل اتڼونه
د ساکانو سرداران سره را غونډ شول
د کېږدۍ ترڅنگه بيا سره راپنډ شول
د بريا زيری يې ښکاري په څېرو کې
د هېلمند سرود غږېږي په ټپو کې
خوشالي د ستر دوښمن د ماتېدو ده
د ساکانو هسک بيرغ په رپېدو ده
په دې منځ کې ملکه زرينه نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ډېره مدبره ، زړه وره
هغه ښکلې، ها مغروره خياليګره
ها سوبمنه، هغه ډېره بختوره
اوګزرياڅ په يوه شوخه خندا موسک شو
ورپه ياد د زرينې او کک چلند شو
په پلرينه مينه خوښ په دې پيوند شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## درویشتم سرود

مازیگر دی ، لمر ساه ډوبی په افق کې
د لویدیز اسمان لمنه تکه سره ده
د لمر سره سترګه لا ځیر دښتې ته ګوري
ځای ځای وریځې هم له رنګه تکې سرې دي
هلته لرې دی روان جنوبختیځ ته
یو سمند په تنده منډه، مست سرکشه
پرې د غره غوندې یو هسک قامت ښکاریږي
شاته پیغلې ورنه غېږه تاوه کړې
اوږدې زلفې یې د باد څپو ته ناڅي
تر جانانه د پېروتې په شان تاو ده
دوه بدنه پر یوبل خواږه تاوده دي
غېږه ډکه د زرینې له جانان ده
دا شېبه ورته ژوند ښکلی پر جهان دی
پهلوان نه مرمرینې متې تاو ې
بندیوان د چا د غېږې د زندان دی
نن شپه ټوله د جانان ترڅنګ سفر دی
د ښایست او مینې تاج یې نن پر سر دی
کک که تږی شو د یار سترګې به نوش کړي
د جانان شونډې به وڅښي تر مستیه
د ملکې عشق یې نن زړه کې خروش کړي
نن شپه چېرته لاله زار کې د دوی شپه ده
تر هېلمنده لویه لار کې د دوی شپه ده
د هېلمند تر څنډو ډېر مزل لا پاتې
دغه شپه د ژوند تر ټولو خوږه شپه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دوښمنو برى يو خوا جانان بلخوا
پر دوه زړونو د مراد وږمه خوره ده
هېلمند غواړي مينان تر خپلې غاړې
چې يوبل سره د مينې په خوند پوه شي
د ځپو د مستانه شوخيو خو اته
په خوږو د يوه نوي پيوند پوه شي
سمند ځي په منډه منډه تر هېلمنده
چې د عشق نوى داستان ورته بيان کړي
راز ونياز باندې ماړه دوه مينان کړي
عشق د لويو حماسو دى د منځ ټکى
عشق د هرې اتلوالې د زړه زړى
د عشق شور دى چې ودان لوى ساکستان دى
عشق له بُسته تر زرنګه لا روان دى
د عشق زور د ى چې هېلمند دى د ساکانو
هېلمند مست دى، هېلمند غاړې غورځي
هېلمند خپلو مېلمنو ته لارې خاري
هېلمند تږى دى، چې راشي دوه مينه
د ځپو تندى يې کېږدي پر لمنه
پيرۍ وشوې چې هېلمند ځپې ځپې دى
مست، سرکشه ، ډک له شوره، له هيبته
سيند د کک. زرينې عشق ته سلامي دى
له هغه وخته تر ننه لا جاري دى.

پاى : د ١٣٩٦ کال د چنګاښ ( سرطان) ٣٠/٢٩ شپه يولس نيمې بجې ؛ کابل – جمال مېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پایځوړونه :

۱. هېلمند، هیرمند، هندمند، هیلمن او هیرمن د هېلمند سیند زاړه نومونه دي. په اوستايي متونو کې يې ( هئتومنت Heatumant) بللی، چې مانا يې ده د بندونو خاوند سیند. دا سیند د بابا له غرونو سرچینه اخلي او په افغانستان کې دننه، تر ۱۱۰۰ کلیومتر مزله وروسته په هامون کې تویيږي. (هیر) په زړو ایندواروپايي ژبو کې د اوبو یا چټکو روانو اوبو په مانا ده، چې په پنجهیر (پنج + هیر، اوس پنجشېر) کې يې هم ریښه شته .
اوېستا: هېتومېنت= لوند خوړ د ړوب = وچ خوړ پر وړاندې؛ پوهاند زیار

۲. ساک یا ساکان، زړه پارسي سکه saka، یوناني سکیت، او سیت Scyt د اريايي یا هندوآریايي او بیا آرياني ژبتوکمیزې ځانګې له پینځو ځانګو څخه یوه ستره او بیا باختري ځانګه ده... پخپله د پښتنو نیکونه او ژبه يې ( ساکي) د پښتو نیا ( انا) ښوول کیږي. ( پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې ) پوهاند م. ا. زیار. دوهم چاپ. ۶۱۱-۶۱۲ مخونه.

۳. زرنګ، درنګیانا، زرنګیا، زرنج(معرب) تر ساکي ایمپراتورۍ مخکې د ساکستان یا سیستان نوم و. زرنګ د هیلمند ولایت د نادعلی ولسوالۍ له پولو پیل او بیا تر اوسني زرنج پورې چې د نیمروز ولایت منځی ده د هیلمند سیند پر غاړو پرتې ودانې سیمې ته ویل کېدل. زیار: ۶۱۶ مخ

۴. په ساکي ګروهه کې د سیندونو او سمندرونو ښتن، زیار : ۱۱۰

۵. هاپي ( اپي) ساکي ربةالنوع چې د زمکې ښتنه بلل کېده او د اسمان د ښتن مېرمن وه ، زیار: ۱۱۰

۶. په زردښتي ګروهه کې د اسماني پرېښتو یو ډول وې، چې د زردښت د بیا زېږون هګۍ ( نطفې ) يې په هېلمند سیند کې له اهریمن څخه ساتلې.
۷. - هوما (په اوستا کې) ، سوما ( په ریګویدا او زړه هندي کې) د هوما بوټي له شیرې څخه جوړو شویو شرابو ته ویل کېدل، چې په زردشتي او ساکي متونو کې مقدس او رغوونکی ښناک ګڼل کېده . ساکانو دغه ښناک ډېر زیات ښنه، ان چې یوه ساکي خېلخانه يې هومايي ساکان ګڼل. د هوما بوټی به يې د شپې رېبه، ځکه د ورځې يې شیره لمر وچوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸ تایمرېس یا لومړۍ زرینه د مساګیتو ساکانو ملکه او زمورږ د منظومې د ملکه زرینې ( دوهمې زرینې)  غوره نیا وه، چې ستر هخامنشی پاچا کوروش یې د خپل زوی ( سپاراګه پایسس) په کسات کې وواژه. د دغې ملکې ذکر په ګڼو تاریخي سرچینو کې شته، اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد د هغې په اړه یوه کوشنۍ پارسي منظومه لري، چې ( کوروش خون آشام ) نومیږي .

۹.  باکتر، باختر، باکتریا، بخدي اوسنی بلخ

۱۰.  هیندوکښ یا د اوبو کښوره، هیندوکوش، هیندوکوښ، هندوکش

۱۱. باګرام؛  اوسنی پېښور،  ناګرویهار؛  اوسنی ننګرهار

۱۲. کابورا، کابل

۱۳. ساکانو به د خپلو دوښمنانو د پرې کړیو کوپړیو ننښې له ځانه سره د ویاړ په توګه ګرځولې، ځینې به یې په زرو کې پوښ کړې وې او هوما به یې په کې څښله.

۱۴. ۱۵- ۱٦- ۱۷- ۱۸ – ۱۹ -۲۰ -  اووه واړه ساکي خېلخانې دي، چې بشپړ جزیات یې د پوهاند زیار په یاد شوي کتاب کې موندلای شئ ، تیشخولي ساکان هغه وو، چې د تېرو څوکو والا خولۍ یې پر سر کولې ،

کښوال ساکان د پارادریایي ساکانو په نامه یادېدل، دوه ډلې ساکان ( پارادریا) او ( پاراسګدیا) پېژنو، چې لومړۍ یې تر آمو ورپورې غاړه او دوهم یې تر سوغد – سغد ورپورې غاړه ساکان یاد شوي دي.
هومایي هماغه د هوما پنځوونکي ساکان دي.

ماساګیت تر ټولو مشهوره او لویه خېلخانه ده، چې د واکمنۍ اوږده مخینه لري، لومړۍ زرینه  (تایمرېس) او دوهمه زرینه دواړه ماساګیت یا مساګیتې ساکانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسپه یان هغه ساکان دي، چې په خپلو نومونو پسې یې د اسپه وروستاړی د ویاړ په پار تاړه.

دهاوي، داوي، دای، دایکي، ساکي خېلخانه ، په دایکندي ( د دایانو کنده یاکلی) دای چوپان او دای میرداد کې یې ریښې موندلای شئ.

کاسیان د ساکانو مقلوبه بڼه ګڼل کیږي، چې ریښه یې په کاسي غر ( کاشغر)، کاسمیر( کشمیر) او نورو ګڼو جغرافیایي نومونو کې موندلای شئ.

۲۱. ساکستان، سیستان، سګستان، سګزستان، سجستان او سقستان ( معرب) اوسنی سیستان چې د افغانستان او ایران ترمنځ په دوو سیستانونوویشل شوی ، له آره ساکستان و او هغه هم له درېیمې مخزېږدې پېړۍ راهیسې، چې باختري ساکان ورته راوکوچېدل، تر دې مخکې یې زرنګ باله،( زیار : ۶۱۵.۶۱۶) ، ساکستان د هېلمند اوبو له برکته سمسور او ښېرازه هېواد و، چې اوس یې لویه برخه په افغانستان کې ده.

۲۲. بُست، همدغه د هېلمند په لښکر ګاه کې پروت بُست دی. ساکانو بُست د سپیڅلي ځای په توګه لمانځه، ځکه دلته د ارغنداب سیند له هېلمند سره یوځای کیږي .

۲۳ . اشکانیان یا پارتیان په پارس کې د پاچایانو هغه لړۍ وه، چې له ۲۴۷مخزیږدي تر ۲۲۴ زیږدي پورې یې پر پخواني پارس، عراق او نورو سیمو واکمني درلوده. د دوی لرغونی مشر اشک یا ارشک نومیده چې د ( پرني ) قبیلې مشر و، د لومړي مهرداد پرمهال یې د زاړه بابل په نیولو پسې پایڅې رابډو هلې او تر دې وروسته یې د فرهاد پاچا په زمانه کې رومیان پسې واخیستل، فرهاد پاچا د ساکانو په لاس ووژل شو، چې کیسه به یې وروسته ولولئ،اردوان د فرهاد زوی او ځایناستي، څه د پلار په کسات او څه هم د هېلمندپرسیند د اوبو بند د ورانولو او خپلې خواته د سیند د بهیر اړولو په پار پر ساکستان راوبلوسل، چې ساکانو بیا هم مات کړ. دغه منظومه د همدې ساکي حماسې کیسه ده. د اشکانیانو ( پارتیانو) د واک لړۍ د لومړي اردشېر په لاس ورټوله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴. اوگزرياځ، په يوناني اوگزرياتس ، په دې نامه دوه کسان پېژنو، يو په سغد کې د پاراسوگدیایي ساکي قبيلې مشر او د روښانې پلار، چې له الکساندر ( سکندر) سره وجنگېده، خو وروسته يې ورسره سوله وکړه او الکساندر يې له لور ( روښانې ) سره واده وکړ، د نورو معلوماتو لپاره د پوهاند زيار ( رخشانه ياساکه پښتنه روښانه (Roxãna)ځنگه د سکندر مېرمن شوه ؟) ليکنه کتلای شئ. دوهم اوگزرياځ همدغه د زرينې په دربار کې د تيشخوليو ساکانو پوځي. سياسي مشر دی، چې له پارتيانو سره په جگړه کې، د زرينې د ساکي لښکر مشري کوي.

۲۵. له رومي ځار ( سيزر. قيصر ) انتيوخوس سره د اشکاني پاچا فرهاد جگړه د بابل او ماد پرسر په ۱۲۸ مخزيږدي کې پېښه شوه، په دې جگړه کې فرهاد له ساکانو مرسته وغوښته، خو هغوی يوځه ناوخته ور ورسېدل، چې فرهاد يې په همدې پلمه له ونډې ورکولو غاړه وغړوله، ساکان غوسه شول او د يوناني لښکر . چې دوی هم له فرهاده خپه ول. په مرسته يې اشکاني پاچا فرهاد مات او په جگړه کې وواژه. تر دې پېښې وروسته د فرهاد زوی اردوان د پارتيا پاچا شو. پوهاند زيار په (پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې) کتاب کې دا پېښه په ۷۵ مخ کې ياده کړې ده.

۲۶. د کک کهزاد کلا د فراه ښار جنوب ته ۱۵ کيلومتره لرې پرته ده، چې د يوه غره پر ډډه جوړه شوې ده، له ماسره، چې د دغې منظومې د ليکلو فکر پيدا شو، نو لومړی کار مې د همدې کلا له ليدلو څخه پيل کړ . دې کلا ته کافر کلا هم وايي، د خلکو تر منځ د دې کلا په هکله ځينې داسې يادونې شته، چې د اساطيري. افسانوي او تاريخي روايتونو يوه گډوله يې بللای شو.

۲۷ . د فراه تاريخي کلا، چې د فريدون د کلا په نامه هم مشهوره ده، د تاريخ له ټولو ناورينونو او ويجاړيو سره سره يې لا هم خپل عظمت ساتلی دی. دغه کلا ۹۹ برجونه لري او تر ۳۰۰ جريبه ډېرې زمکې څخه راتاو شوې ده، فراه کې د زاړه ښار په نامه هم يادېږي او ويل کيږي، چې تر اويا يا اتيا کلونو پخوا هم د فراه ولايتي مرکز په کې و. دوه دروازې لري، چې يوې ته د کندهار او بلې ته د هرات دروازه وايي.

۲۸ . روښانه، ساکي نوم دی. يو نانيانو ورڅخه (رکسانه ) جوړه کړې او پارسيانو (رخشانه) گڼلې ده، ساکي نجوميانو او پال نيوونکيو د ( روښانه ) په نامه يو کوشنی، خو روښانه ستوری هم پېژانده، چې د نيکمرغۍ ستوری يې گاڼه ( وگ : سکندر ورکسانه د جوآن کريسپي ليکنه، د عبدالحميد فريدي عراقي ژباړه.)
يوه روښانه د اوگزرياځ ( اوگزرياتس) لور وه، چې د سغد په جگړه کې د الکساندر ( سکندر) مېرمن شوه. د فراه دغه روښانه د سيمې د يوه ساکي واکمن مېرمن وه، چې د ساکي قبيلو ترمنځ په خپلمنځي جگړو کې ووژل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د ( کک ) په نامه زوی. زموږ د منظومې اتل. ترې پاتې شو، روښانې د خپل وژل شوي مېږه پرځای کلونه پر فراه حکومت وکړ.

۲۹. تېسپون، تېسفون : کم وزیات شپږ سوه کاله د پارس پلازمېنه و، دا ښار په اوسني عراق کې دی. د اشکانیانو په دوره کې د دوی پلازمېنه و، په ساساني دوره کې یې هم خپل سیاسي. اقتصادي ارزښت ساتلی و، خو پر سیمه د عربانو تر یرغل وروسته لوټ او ورو ورو په کنډواله بدل شو.

۳۰. دا لنډۍ یا یې مفهوم، د ځینو څېړونکیو له خوا په هغې دورې پورې اړوند ګڼله شوې ده، چې اریاني ځوانانو به د شپې له خوا د هوما یا سوما ګلونه په غرونویا دښتو کې رېبل.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**